# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دیارلسم کال، یوسلو شپږ. څلویښتمه گڼه د ۱۳۹۸ کال د زمری میاشت



## د غازي امان الله خان اقتصادي فعالیتونه



## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینۍ خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او د هغوی فعالیتونه غیر قانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي.

# بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگر: عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


ذخایر ارزی کشور به ۸.۵۱۹ میلیارد دالر امریکایی رسید

د نړیوال بانک له پلاوي سره غونډه جوړه شوه

گرامیداشت از صدمین سالروز استرداد استقلال کشور

د غازي امان الله خان اقتصادي فعالیتونه

گفتگو پیرامون توسعهٔ همکاری های تجارتی و بانکی

په لرې پرتو سیمو کې بانکي خدمتونو ته د لاسرسي په اړه غونډه جوړه شوه

په افغانستان کې د ډالري اقتصاد مسئلې او اندېښنې

د افغانستان بانک عملیاتي کړنوته ځغلنده کتنه

اقتصادي خبرونه

د اروپا د اداینو بهیر د بدلېدو په حال کې دی

د افغانستان طبي بوټي، د هغو اقتصادي ارزښت او صادرات

مبحثی پیرامون فقر و فقرزدایی

د ملی پولي واحد د کارولو ګټې

د لمریزې او بادي انرژۍ تولید مو د بریښنا په برخه کې په ځان بسیا کوي

بهبود اقتصاد کشور، مستلزم تلاش های پیگیر

مدیریت صنعت و تجارت و مرحلهٔ بازاریابی


**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.




# ذخایر ارزی کشور به ۸.۵۱۹ میلیارد دالر امریکایی رسید

سطح ذخایر ناخالص ارزی افغانستان، طی یک و نیم دهۀ گذشته سیر صعودی داشته است.

ذخایر ناخالص ارزی افغانستان از قرار ۳۰ سرطان ۱۳۹۸ به ۸.۵۱۹ میلیارد دالر امریکایی رسیده که میتواند واردات یکساله کشور را تأمین نماید. این در حالیست که اگر کشوری بتواند واردات سه ماهۀ خود را بوسیله ذخایر ارزی پوشش دهد، از لحاظ ذخایر ارزی در موقف بهتری قرار دارد.

باید خاطر نشان ساخت که افزایش در میزان ذخایر ارزی، موفقیت د افغانستان بانک را در قسمت مدیریت ذخایر ارزی کشور طی یک و نیم دهۀ گذشته نشان میدهد.

د افغانستان بانک منحیث بانک مرکزی کشور برای نیل به هدف اصلی اش که ثبات قیم است، در کنار لیلام اوراق سرمایوی از لیلام ارز نیز استفاده می نماید. ارزی که در کنار اوراق سرمایوی منحیث وسیله سیاست پولی توسط د افغانستان بانک لیلام می گردد، بر اساس سیاست های پولی و ارزی صورت میگیرد. در عین حال، د افغانستان بانک مدیریت لیلام ارز را به شکلی تحت کنترول قرار داده است که هم نرخ مبادله افغانی در مقابل سایر اسعار را تا حد تعیین شده ثابت نگهداشته، هم از ذخایر متذکره برای واردات کالا و اجناس مورد نیاز کشور استفاده نموده و هم میزان ذخایر ارزی کشور را افزایش داده است.

# د ټریوال بانک له پلاوي سره غونډه جوړه شوه




کابل، د ۱۳۹۸ کال د زمري ۱۵ مه – د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر په مشرۍ د ټریوال بانک له پلاوي سره غونډه جوړه شوه.

په دغه غونډه کې چې د افغانستان بانک یو شمېر آمرینو هم ګډون کړی وو، د ټریوال بانک استازو ته د دې بانک په اړه د مالي سکتور د چټک ځواب ویلو پروژې (FSRRP) د بشپړېدو او په افغانستان کې مالي خدمتونو ته د لاسرسي د پراختیا (SAFI) پروژې په اړه معلومات ورکړل شول.

ښاغلي واحدالله نوشیر د افغانستان بانک په اډانه کې د دې پروژو پلي کول د خورا ارزښت وړ یاد کړل او په دې برخه کې یې د ټریوال بانک د لا زیاتو همکاریو غوښتنه وکړه.

د ټریوال بانک پلاوي هم د افغانستان بانک سره د خپلو همکاریو ډاډ ورکړ او ژمنه یې وکړه چې په ذکر شوو برخو کې به د افغانستان بانک سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک په اډانه کې د مالي سکتور د چټک ځواب ویلو پروژه (FSRRP) په ۲۰۱۱ میلادي کال کې پیل شوې او د روان میلادي کال تر وروستیو به دوام وکړي. د دې پروژې په بشپړېدو سره به په افغانستان کې مالي خدمتونو ته د لاسرسي د پراختیا پروژه (SAFI) په ۲۰۲۰ میلادي کال کې پیل شي.

پاتې دې نه وي چې په دې غونډه کې د مالي ټینګښت آمریت آمر ښاغلي سمیع الله مهال، د افغانستان د مالي معاملاتو او راپورونو د تحلیل د مرکز آمر ښاغلي نثار احمد یوسفزي، د اسلامي بانکدارۍ د آمریت آمر ښاغلي ډاکتر یوسف سلیم او د ریاست مقام د مالي چارو مشاور (سلاکار) ښاغلي سید عبدالغفور سادات،هم ګډون کړی وو.

# گرامیداشت از صدمین سالروز استرداد استقلال کشور





کابل، ۲۷ اسد ۱۳۹۸- د افغانستان بانک برای بزرگداشت از صدمین سالروز استرداد استقلال کشور، محفلی را در دفتر مرکزی خود تدویر کرده که در پایان آن نمایشگاه عکاسی نیز افتتاح شد.

محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک طی این محفل ضمن مبارکی صدمین سالروز استرداد استقلال کشور به حاضرین و همه هموطنان، روی اهمیت استقلال صحبت نموده و از کارنامه های اقتصادی شاه امان الله خان یاد آوری نمود.

محترم نوشیر سرپرست د افغانستان بانک افزود که شاه امان الله خان در دوره ده ساله حکومت خویش اساس اقتصاد نوین را پایه گذاری و فعالیت های مثمر اقتصادی انجام داد.

محترم واحد الله نوشیر در بخشی از سخنان خویش گفت که شاه امان الله خان در بخش اقتصادی روی انکشاف صنایع توجه خاص نموده و ادارهٔ را تحت نام اقتصاد ملی ایجاد نمود. محترم نوشیر تصریح نمود که اولین بانکنوت افغانی در زمان شاه امان الله خان چاپ و در داد و ستد های مالی قرار داده شد.

متعاقباً محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک، صدمین سالروز استرداد استقلال کشور را برای هموطنان، تبریک گفته و پیرامون اهمیت اقتصادی استقلال صحبت نمود.

قابل یاد آوریست که بمناسبت صدمین سالروز استرداد استقلال کشور، د افغانستان بانک نمایشگاه عکاسی را نیز تدویر و عکس های مختلف از اقتصاد، فرهنگ و طبیعت زیبای افغانستان در آن به مدت سه روز به نمایش گذاشته شد تا کارمندان د افغانستان بانک از آن دیدن نمایند.

باید یاد آور شد که این محفل و نمایشگاه عکس در دفتر مرکزی د افغانستان بانک راه اندازی و بر علاوه هیئت رهبری، آمرین و معاونین آمریت ها و کارمندان د افغانستان بانک نیز اشتراک ورزیده بودند.



# د غازي امان الله خان اقتصادي فعالیتونه

غازي امان الله خان په ۱۸۹۲ م کال د کابل په پغمان کې زیږېدلی، د امیر حبیب الله خان زوی او د امیر عبدالرحمن خان لمسی دی.

نوموړی د ۱۹۱۹ میلادي کال په فبرورۍ میاشت کې د خپل پلار تر مرګ وروسته قدرت ته ورسېد، په همدې کال یې له انګریزانو آزادي تر لاسه کړه او لس کاله د افغانستان پاچا پاتې شو.

غازي امان الله خان د هېواد پرمختګ ته زیاته لېوالتیا درلوده چې په همدې موخه یې د هېواد لپاره ګڼ شمېر بنسټیز کارونه ترسره کړل چې په دې مقاله کې په یو شمېر اقتصادي فعالیتونو تم کېږو.

غازي امان الله خان په خپله لس کلنه شاهي دوره کې د اقتصاد په برخه کې د صنایعو انکشاف ته پوره پام وکړ او په بهرنۍ سوداګرۍ کې افغان توکو د نړۍ مارکېټونو ته لاره ومونده. په عمراني برخه کې نوي ښارونه جوړ شول او د کابل ښار ته د پخوا په پرتله څو چنده پراختیا ورکړل شوه. د ولایتونو تر منځ لارې او سړکونو له سره جوړ شول او په کابل، جلال آباد، پغمان او مقر کې د مسافرو د هوساینې لپاره هوټلونه جوړ شول.

غازي امان الله خان په ۱۳۰۷ لمریز کال کې د ملي اقتصاد په نامه وزارت رامنځته کړ او همدارنګه د ترانسپورت ملي اداره، د لاسي صنایعو، د کرنې او صنعت باصلاحیته ادارې جوړې شوې.

په همدې دوره کې د مالدارۍ محصول قانون (محصول مواشی ) جوړ شو او د مالیاتي ادارو د چارو د ښه تنظیم لپاره په کابل کې د دفتري اصولو په نوم ښوونځی رامنځته شو او د دې ښوونځي فارغان په دولتي مالیاتي ادارو کې په دندو وګمارل شول، چې د دې کسانو په راتګ سره پخواني سیستمونه له منځه لاړل او نوي ښاري او عصري سیستمونه جوړ شول.

په ۱۹۲۰ میلادي کال کې کاغذي پیسې چاپ شوې چې د یو، پنځه، شل، پنځه ویشت، پنځوس او سلګون نوټونه یې درلودل.

»

په یاده دوره کې د مقیاساتو د قانون ترڅنګ په ۱۹۲۲ میلادي کال کې د صنایعو د تشویق قانون هم رامنځته شو. دې قانون د صنایعو د پرمختګ لپاره لاره هواره کړه، سوداګرۍ پراختیا ومونده او زیات شمېر پخواني کورني ګمرکونه له منځته لاړل او همدارنګه د پخوانیو حکومتونو له لوري په بزګرانو، مالدارانو او کسب کارانو تحمیل شوي درانده بوجونه را کم کړل شول.

په ۱۹۲۳ میلادي کال کې د کرنې د مامورینو او مالیاتو د تحصیل لپاره قوانین رامنځته شول او د حکامو ښوونځی جوړ شو او فارغان یې محلي ادارو ته ولېږل شول، پاتې د نه وي چې په همدې وخت کې د مامورینو او حکامو د ادارو د تنظیم قانون هم جوړ شو.

د اصلاحاتو په دې لړۍ کې د سوداګرۍ ځانګړې محکمې رامنځته شوې او د تنویرات، موټر، درملو، افغان ملګرو، ضیا — جرمن، د شوروي سوداګریزې کمپنۍ په نومونو کمپنیو په فعالیت پیل وکړ او دولت د لومړي ځل لپاره د امانیه او ثمر په نومونو دولتي سوداګریزې کمپنۍ جوړې کړې.

له انګلیس سره د سوداګریزو اړیکو تړون لاسلیک شو او په ګاونډیو هېوادونو کې د افغانستان سوداګریز استازي ( قنسلان او د سوداګرو نمایندګان) په دندو وګمارل شول. دولت د سوداګرۍ په برخه کې د جرمني هېواد ځخه د کاملهٔ الوداد حق تر لاسه کړ (کامله الوداد د سوداګرۍ په برخه کې دربیم ګړي هېواد ته د تعرفو او محصول په برخه کې د کموالي راوستلو په معنی دی) له پولنډ هېواد سره یې د آزادې سوداګرۍ حق واخیست، له مسکو او برلین سره یې د سوداګریزو راکړو ورکړوپه چارو کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو سندونه لاسلیک کړل.

د غازي امان الله خان په وخت کې د وریښمو تجارتي لارې ته پراختیا ورکړل شوه او ترانسپورټي برخو ته پاملرنه زیاته شوه. د اور ګاډي لومړنۍ پټلۍ پرانیستل شوه او له جرمني هېواد څخه درې اورګاډي واخیستل شول، دې اورګاډو د کابل ښار د دهمزنګ د کارخونې او د پغمان د نوي ښارګوټي ترمنځ د اوه کیلو متره په واټن فعالیت درلود. په همدې وخت کې افغانستان له دوو آلماني او فرانسوي شرکتونو سره د اوسپنې پټلۍ د غځولو قراردادونه لاسلیک کړل، ترڅو له شمال څخه تر جنوب پورې د اوسپنې پټلۍ وغځوي.

غازي امان الله خان په هېواد کې دننه د لویو ښارونو ترمنځ یو شمېر ملکي هوایي ډګرونه هم پرانیستل او همدارنګه د باندنیو هېوادونو سره یې د هوایي چلند اړیکې ټینګې کړې.

په هېواد کې ۲۴۴ کیلو متره سړکونه په پاخه او اساسي ډول ورغول شول او بېلابېل ډول کانونه کشف شول، چې دې چارې هم د هېواد په اقتصادي وضعیت اغېز وکړ او هم یې د پانګې اچونې په برخه کې د نړیوالو پام ځان ته راجلب کړ.

په همدې دوره کې ولایتونه له مرکز سره د تلګراف او تیلفوني مزو په واسطه ونښلول شول. په پغمان، جلال آباد او کندهار کې برېښنا کوټونه (سب سټیشنونه ) جوړ شول او له دې لارې د چرم جوړونې، باروت جوړونې، سیمنټو او ګوګړو کارخونو ته برېښنا ورکړل شوه.

د موټرنو د ترمیم، پرزې جوړونې، ټوپک جوړونې، صابون، عطر، تار، تیکې (رخت )، نجارۍ، یخ، پنبې او له هغې د غوړ ایستلو کارخونې په کندهار، هرات او مزار شریف کې جوړې شوې.

همدارنګه د قند جوړونې، نساجۍ، جیم، تنۍ (دکمه) جوړونې، د مېوې ساتنې، پنېر او کوچ د پروسس، د اوبو او تېل را ایستنې

»

کارخونو په فعالیت پیل وکړ. د کابل – مزار شریف – شوروي – ایران او ترکیې تر منځ د هوا له لارې د پوستي خدمتونو د رامنځته کولو چارې پیل شوې او د کابل هند تر منځ د ځمکې له لارې پوستي خدمتونه شروع شول.

په همدې وخت کې د غازي او د غزني د سراج د اوبو د بندونو چارې بشپړې شوې او د ځمکنیو د اوبو بند د رغولو او رازق نهر د تکمیل چارې پیل شوې.

همدارنګه د بدخشان د لاجوردو، د هرات د نفتو د کانونو او په هېواد کې د اوسپنې ویلې کولو، اوسپنې د کانونو په برخه کې د پرمختیا، د ډبرو سکرو، سرپو (سرب)، ابرک، تباشیر، مرمرو ډبرې او نورو برخو کې پروګرامونه په لاره واچول شول.

په یاده دوره کې د پکتیا او اسمار د ځنګلونو د تنظیم، د آسونو د نسل د زیاتوالي، د قره قل نسل د رغښت او پیله ورى په اړه پلانونه رامنځته شول.

په کابل کې د لومړي ځل لپاره د افغان صنایعو نندارتون جوړ شو او له وطني رخت جوړې جامې د دولتي مامورین لپاره جبري شوې.

د غازي امان الله خان په وخت کې د لومړي ځل لپاره د کابل ښار ته برېښنا ورکړل شوه، د دارالامان ماڼۍ جوړه شوه او په همدې سیمه کې د کابل د نوي ښار د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

په کابل او یو شمېر نورو ولایتونو ملکي او نظامي روغتونونه جوړ شول او د لومړي ځل لپاره افغانستان ته د اکسرې ماشینونه راوړل شول.

د کابل حربي کارخونه جوړه شوه، له بهر څخه د طیارو لپاره د دافع هوا سیستم، زره پوش موټرونه او ۱۱ طیارې واخیستل شوې.

د غازي امیر امان الله خان د دې اصلاحاتو په ترڅ کې د دولت عواید د تېر په پرتله تر دوه ځله زیات شول او هغه مهال له ۸۰ میلیون افغانیو ۱۸۰ میلیون افغانیو ته لوړ شول.

په همدې دوره کې د کورنیو عوایدو د زیاتوالي په پار د دولت له لوري په بېلابېلو برخو کې مالیات رامنځته شول او دې برخې د کورنیو عوایدو په زیاتوالي کې د لیدنې وړ پرمختګ رامنځته کړ.•

حسیب الله نوري

**سرچینې:**


۱ – افغانستان در مسیر تاریخ: غلام محمد غبار

د پاڼې شمېره: ۷۸۹– ۷۹۲

د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۱ کال غویی

https://archive.org/stream/Afghanistan_in_the_course_of_history_Ghubar/Part_9of9#page/n41/mode/2up/search/%D8%A7%D9%85%D8%A7%D9%86+%D8%A7%D9%84%D9%84%D9%87+

۲ – اعلیحضرت شاه امان الله غازي/ نوماند اکاډېمسین سیستاني / رحمت آریا

http://www.benawa.com/web_stuff/amanullah-khan.php#ixzz5vbnyqj1a

۳ – شاه غازي امان الله خان او د افغانستان خپلواکي/ ګل محمد پښتون

http://www.benawa.com/web_stuff/amanullah-khan.php

۴ – د غازي امان الله خان اقتصادي فعالیتونه/ عابدالله یوسفزی

http://www.taand.com/archives/74256

# گفتگو پیرامون توسعۀ همکاری های تجارتی و بانکی

## د افغانستان بانک با سفارت ایران مقیم کابل



کابل، ۱۶ اسد ۱۳۹۸- محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک با سفیر جمهوری اسلامی ایران مقیم کابل تدویر جلسه نمود.

طی این نشست که در دفتر مرکزی د افغانستان بانک صورت گرفت، پیرامون توسعه همکاری های تجارتی و بانکی صحبت گردید.

محترم محمد رضا بهرامی سفیر ایران مقیم کابل گفت که ایران علاقمند گسترش تجارت با کشور دوست افغانستان است، آرزومندیم که در این زمینه پیشرفت های قابل ملاحظه صورت بگیرد.

محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک ضمن استقبال از توسعه همکاری های تجارتی میان دو کشور افزود که هر آنچه در چارچوب قانون و مقررات موجود، ایجاب نماید، همکاری خواهند نمود.

قابل یادآوریست که در این جلسه محترم محمد سلیم صلاح آمر عمومی نظارت امور مالی، محترم نثاراحمد یوسفزی آمر عمومی مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی، محترم نجیب الرحمن آمر و عمومی عملیات بازار د افغانستان بانک و محترم سید عبدالغفورسادات مشاور امور مالی و بانکی مقام ریاست نیز اشتراک ورزیده بودند.

# په لرې پرتو سيمو کې بانکي خدمتونو ته د لاسرسي په اړه غونډه

د افغانستان بانک د لومړي مرستيال او سرپرست ښاغلي واحدالله نوشير ترمشرۍ لاندې د ملګرو ملتونو په استازندويه دفتر کې بانکي خدمتونو د عامه لاسرسي په اړه غونډه جوړه شوه.

د افغانستان بانک لومړي مرستيال او سرپرست ښاغلي واحدالله نوشير وويل چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې ټول هېوادوال بانکي خدمتونو ته لاسرسی ولري او په دې اړه يې په وار وار له بانکونو او مخابراتو وزارت ترڅنګ له مالي وړو او منځنيو مؤسسو له استازو او پولي خدمتونو وړاندې کونکو شرکتونو سره ګټورې غونډې کړې دي.

د دې غونډې اصلي موخه هم د لرې پرتو سيمو اوسيدونکو ته د بانکي خدمتونو رسول، د بانکونو د عملياتي لګښتونو راکمول، مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي زياتول او په هغو سيمو کې چې د بانکونو نمايندګۍ نشته، د بانکي خدمتونو وړاندې کول په ګوته شوي دي.



اوسمهال بانکونه د افغانستان په ټولو سيمو کې نمايندګۍ نه لري او نشي کولای چې خدمتونه وړاندې کړي، له همدې امله د بانکي خدمتونو د پراختيا او هېوادوالو لپاره د لازياتو اسانتياوو د برابرولو په موخه د موبايل او استازي له لارې د بانکي خدمتونو وړاندې کول، کولای شي د افغانستان بانک د بانکوالۍ په برخه کې د جواز لرونکو مخابراتي شبکو او بانکونو له لارې هېوادوالو ته د پيسو د ورکړې او ترلاسه کونې اسانتياوې د موبايل او استازي (اجنټ) له لارې برابرې کړي.

د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د سوداګريزو بانکونو استازو، د وړو او منځنيو مالي ادارو استازو او د ځينو بهرنيو سفارتونو او مالي مؤسسو استازو هم ګډون کړی وو.

# په افغانستان کې د ډالري اقتصاد مسئلې او اندېښنې

**وروستی برخه**

**د پور ورکولو د وروستي مرجع په توګه د رول د بایللو خطر:** د پور ورکړې د وروستي مرجع په توګه مرکزي بانک هڅه کوي څو د مشتریانو د امانتونو د ډله ییزه هجوم د کنټرولولو لپاره له هغو بانکونو سره مرسته وکړي چې د نغدو پیسو له کمښت سره مخ شوي دي. له هغه ځایه چې په نیمایي ډالري اقتصادونو کې مرکزي بانکونه د بهرنیو اسعارو د چاپولو قانوني واک نه لري، خو د مالي کړکیچ پر مهال د بانکي نظام په وړاندې په مطلقه توګه د پور ورکړې د وروستي مرجع په توګه د خپل ظرفیت یوه برخه له لاسه ورکوي. اسعاري امانتونه په بانکي نظام کې د شته ټولیزه امانتونو ۶۵.۹۳ سلنه جوړوي چې د ۱۳۶.۵۲۱ میلیارده افغانۍ (معادل یې ۲.۲۷۵ میلیارده امریکایي ډالرو) ته رسېږي. له نغدي کمښت سره د مخ شویو بانکونو د مرستې لپاره د افغانستان بانک توانایي هغه مهال کمزوره کېږي چې اسعاري امانتونه په ډله ییزه توګه له بانکونو څخه وویستل شي او همدا ډول د ۶.۷ میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت د اسعاري زېرمو له امله د پور ورکړې د وروستي مرجع په توګه د افغانستان بانک رول محدوده ساتي.

**د پولي سیاست ناګټورتیا:** د ډالري اقتصاد په اړه نېږدې ټول شته معلومات په دې ټينګار کوي چې ډالري اقتصاد د اغېزناکه پولي سیاست په پلي کولو باندې ناوړې اغېزې لري. د څېړنو او معلوماتو له مخې، ډالري اقتصاد د پولي لېږد پر میکانیزم باندې د منفي اغېزو له امله د پولي سیاست اغېزناکتیا زیانمنه کوي.

باید یادونه وشي چې افغانستان د پولي هدف د ټاکلو رژیم تعقیبوي. په دا ډول رژیم کې په ګردښت کې د پیسو کره شمېرې او د یو معقول پولي سیاست د تطبیق لپاره د نورې نقدینه ګۍ درلودل خورا اړین دي. همدا ډول په یو ډالري اقتصاد کې د پولي سیاست چارواکو لپاره په ګردښت کې د اسعارو محاسبه یا سنجش او د پراخه مفهوم په توګه د پیسو د اسعارو د برخې کنټرول ستونزمنه کوي. له همدې امله د پولي عرضې په تعیینولو کې د پولي سیاست رول راکموي او په پایله کې د پولي سیاست اغېزناکتیا او ګټورتیا په معکوسه توګه زیانمنه کېږي.

په قسمي ډالري اقتصادونو کې د پولي سیاست د تطبیقولو په لاره کې بل خنډ د مبادلې له نرخ څخه کورني بیو ته اسعاري معاوضه ده. په هره کچه چې د انتقالي اغېزو کچه زیاته وي په هماغه اندازه د پولي سیاست لپاره د پولي هدف په مرسته د انفلاسیون د نرخ کنټرول ستونزمن کېږي. له همدې امله کولای شو ووایو په داسې یو شدیده ډالري اقتصاد کې چې د نه پلور وړ توکو او خدمتونو بیې یې په اسعارو باندې ټاکل کېږي، د مبادلې د نرخ اغیزې د ګڼ شمېر توکو له لارې کورني بیو ته لېږدول کېږي چې له امله یې په ډالري اقتصاد کې د مبادلې د نرخ نوسانونه ډېرې ستونزې راولاړوي.

**په ملي پیسې باندې د مبادلې د ارزښت ټیټېدونکي فشارونه:** په پراخه کچه د معاملو ډالري کېدل (د اسعارو معاوضه) په اقتصاد کې د اسعارو لپاره د تقاضا او د مبادلې په نرخ باندې د فشارونو په زیاتېدو سره ملي پیسې کمزوره کېږي. سربېره پر دې، څېړنې او

«

عملي شواهد ښکاره کوي چې په لوړه کچه د اسعارو مبادله د مبادلې د نرخ نوسانونه زیاتوي. په بل عبارت، هر څومره چې د اسعارو د تعویض کچه زیاته وي، په هماغه کچه به د مبادلې د نرخ نوسانونه لوړ وي (اکسی او نور ۱۹۹۷). همدا ډول د مبادلې د نرخ نوسانونه، د انفلاسیون د نرخ د نوسانونو په زیاتېدو سره په کورنـي اقتصاد باندې منفي اغېزه کوي چې له امله یې د مبادلې د نرخ خطر زیاتیږي.

**د ډالري اقتصاد ګټې**

نړیواله تجربې ښکاره کوي چې د ډالري اقتصاد د بهیر یوه برخه په بنسټیزه توګه د انفرادي اشخاصو لخوا د خپلو عوایدو د واقعي ارزښت ساتلو په موخه هڅو پورې تړاو لري او د انفرادي اشخاصو د عوایدو د حقیقي ارزښت د ساتلو پر وړاندې تر ټولو ستر ګواښ لوړ انفلاسیون دی. په یو ستر ډالري اقتصاد (افغانستان) کې په اسعارو د امانتونو پرانیستل د پانګې د تېښتې په مهارولو کې مرسته کوي.

په هغه هېوادونو کې چې پر اوسیدونکو یې د بهرنیو اسعارو د حسابونو په پرانیستلو محدودیت یا بندیز لګیدلی وي، د دې هېوادونو اوسیدونکي اړ کیږي څو خپل اسعار "تر توشک لاندې" وساتي او یا یې بهر ته ولیږدوي. د دې استدلال پر بنسټ کولای شو ووایو چې غیر رسمي ډالري اقتصاد د سوداګرو او کورنیو د هڅولو له لارې مالي بازار پیاوړی کوي، په سیمه ایزو بانکونو کې د پورته یادو شویو اشخاصو په اسعارو د ترلاسه شویو عوایدو او شتمنیو له ساتلو او د بانکي نظام د کړنو او عملیاتو د کچې له زیاتېدو سره مرسته کوي.

همدا ډول په یو ډېر ډالري شوي اقتصاد کې مرکزي بانک هېوادوالو ته د پور ورکولو د وروستي مرجع په توګه خپله وړتیا له لاسه ورکوي. له همدې امله، د افغانستان دولت هڅه کوي څو د بنسټیزو سمونونو د راوستلو له لارې د سیالیو د هڅولو ترڅنګ د څارنې او مقرراتو بهیر پیاوړی او له نړیوالو بانکونو سره د اړیکو د درلودلو لپاره لاره هوار کړي.

زمونږ په هېواد کې د افغانستان بانک د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) په تخنیکي همکارۍ د خصوصي بانکي نظام له تنظیم او څارنیزو چارو څخه په جدي توګه څارنه کوي او حتی د افغانستان بانک د لوی اقتصاد د بې ثباتۍ له امله یې په پانګه ایزو شرایطو باندې جدي مقررات وضع کړي دي. په ورته وخت کې څیړونکي په دې باور دي چې د نړیوالو بانکونو شتون به د هېوادوالو د باور کچه په بانکي نظام باندې لوړه کړي. حال دا چې اوس مهال د ۱۶ شته بانکونو له ډلې څخه ۶ یې بهرني بانکونه دي.

په پراخه کچه د ډالري اقتصاد بله ستره ګټه دا ده چې په افغانستان کې میشت وګړي پر دې برلاسي کوي څو د انفلاسیون او د پیسو د ارزښت د کمېدو پر وړاندې د خپلو شتمنیو ارزښت وساتي. که څه هم انفلاسیون په تېرو څو کلونو کې په نسبي توګه ثبات درلوده، خو د افغانۍ ارزښت (ملي پیسې) د پام وړ کموالی تجربه کړی دی. همدا ډول په بهرنیو اسعارو د امانتونو پرانیستل کولای شي د مبادلې د نرخ خطر کم یا له منځه یوسي او د بهرنیو مستقیمو پانګونو د هڅولو او د لا اقتصادي ودې لپاره فرصتونه برابر کړي.

**سپارښتنه**

دا څیړنیزه مقاله په ډاګه کوي چې په افغانستان کې د ډالري کېدو کچه په دوامداره توګه لوړه شوې ده او لا تر اوسه اړوندې هلې ځلې په دې توانیدلي نه دي چې د ډالري اقتصاد کچه راکمه کړي. څرنګه چې پورته یادونه شوې د ډالري اقتصاد لګښت د ګټې په پرتله د پام وړ زیات دی. له همدې امله مونږ د یوې داسې پالیسی د جوړېدو وړاندیز کوو چې په هېواد کې دننه په اقتصادی راکړو او ورکړو کې د ډالرو کارولو مخنیوی لپاره اقتصادي، مقرراتي او اداري اړخونه تر پوښښ لاندې ونیسي او په دوامداره توګه په هېواد کې دننه په اقتصادی راکړو او ورکړو کې د ډالرو کارولو د مخنیوی لپاره طرحه عملي کړي.

نړیواله تجربې ښیي چې د ډالري اقتصاد د بهیر بېرته بدلول سخت کار دی او په اغیزناکه توګه د ډالرو د له منځه وړلو بهیر اوږد مهاله پروسه ده چې د مطلوبې پایلې لپاره یې څو لسیزې وخت په کار دی. د ډالرو کارولو د مخنیوی په اړه دا څیړنیزه مقاله په ډاګه کوي هغه هېوادونه چې په جبري توګه خپل ډالري اقتصاد له منځه وړي، ښې تجربې نه لري. په ډېرو مواردو کې په جبري ډول د ډالري اقتصاد د له منځه وړلو پروسه معکوسې پایلې لري او د پانګې د تیښتې انګیزې زیاتوي او د مالي نظام د کمو مداخلو په پایله کې د اقتصادي ودې کچه راکموي.

د یو شمېر هېوادونو له ژورې مطالعې او څېړنې وروسته چې په بریالیتوب سره یې د ډالري اقتصاد بهیر راکم کړی. مونږ دې پایلې ته رسیدلي یو چې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي، اغېزناکه پالیسي له احتیاطي مقرراتو سره یو ځای د کورنیو پیسو د بازار پرمختګ ته اړتیا لري. له احتیاطي مقرراتو څخه زمونږ موخه د پولي سیاست تطبیق په ځانګړې توګه په اسعاري چاپېریال باندې تمرکز او د احتیاطي معیارونو پیاوړتیا ده چې کولای شي له اړوندو خطرونو سره مقابله وکړي. په ورته وخت کې د یو اغېزناکه اسعاري بازار د جوړېدو او پراخېدو موخه د هغو هڅوونکو عواملو محدودول دي چې د ډالري اقتصاد بهیر او د کورنیو پیسو ابزارونه پیاوړي کوي.

احتیاطي مقررات احتیاطي معیاري غوره طریقې او همدا ډول هغه مقررات چې په ډالري شویو اقتصادونو کې د بانک په کچه د اسعارو د نا انډولتیا د حل په موخه پلي کېږي ( لکه د زېرمې د التزامونو د توپیر فعاله مدیریت، د ډالري اقتصاد د خطر د داخلي کولو لپاره د انګېزو د رامنځته کولو په برخه کې ګامونه د بېلګې په توګه د بهرنیو اسعارو د امانتونو لپاره د زېرمې لوړ التزامونه، جدي کمي محدودیتونه او د مالیې متناسبه سنجش) رانغاړي.

همدا ډول دا احتیاطي طریقې ډالرو د مداخلې لپاره د انګېزو د کموالي لامل کېږي، خو د ملي پیسو د مداخلې د هڅونې په برخه کې اغیزناکه ثابتېږي. په لوړه کچه ډالري شوي اقتصادونو کې په بریالیتوب سره د احتیاطي مقرراتو پلي کول د لوی اقتصاد د ثبات د پالیسیو یو تر ټولو مهم اړخ ګڼل کیږي.

په ۲۰۱۰ کال کې د اسکریبانو (Escribano) او ساسو (Saso) د راپور پر بنسټ، د لوی اقتصاد د ثبات پالیسي د انفلاسیون د کمېدو، د انفلاسیون د تمو د پیاوړې کېدو او په دوامداره توګه د کورنیو پیسو د ارزښت د زیاتېدو لامل کېږي. د لاتینې امریکې په لوړه کچه د ډالري شویو هېوادونو لکه؛ بولیویا، پاراګوای، پیرو او یوروګوای د ډالري کېدو بهیر په ۲۰۰۰ زېږدیز کال کې د پام وړ کم شوی ؤ چې اصلي لاملونه یې د انفلاسیون د نرخ کنټرولول او د کورنیو پیسو د ارزښت زیاتېدل ګڼل کېږي. د یادونې وړ ده چې د ملي پیسو د ارزښت زیاتېدل د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي تر ټولو ستر لامل ګڼل کېږي.

د کورنیو پیسو لپاره د بازار جوړیدل او پرمختیا د دې لپاره اړینه ده چې په دوامدره توګه د ډالري اقتصاد د له منځ وړلو په موخه د اسعارو د مالي نه مداخلې له امله لګښتونه راکم کړي. په ورته وخت کې د ډالري اقتصاد د له منځه وړلو لپاره باید په دوامداره توګه احتیاطي مقررې د کورنیو پیسو له پراخو ابزارونو سره یو ځای شي. په دا ډول سناریو کې د ملي پیسو لپاره د بازار جوړول او پراخول د کورنیو پیسو د ابزارونو د ډولونو د زیاتولو او همدا ډول د امریکایي ډالرو په وړاندې د کورنیو پیسو د ارزښت د زیاتیدو دنده لوبوي. نړیوالې تجربې ښکاره کوي چې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي په پروسه کې د پور ورکړې بهیر د پانګه ایز بازار د پراختیا په مرسته ملي پیسو او په ځانګړې توګه د اوږد مهاله پور پاڼو صادریدو ته اسانه شوی دی. همدا ډول د بولیویا، پیرو او یوروګوای هېوادونو په ملي پیسو باندې اسمي پور پاڼې معرفي کړې چې د سر رسید موده یې له لسو کالو زیاته ده چې دا کار داخلي ګټه د پام وړ زیاتوي او په کورنیو پیسو باندې د بانکي تمویل او د اوږد مهاله پور د بیو ټاکنو پروسه ګړندۍ کوي. په (۲۰۱۰) کال کې د اسکریبانو لخوا په لاتینې امریکې کې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي د عواملو په اړه ترسره شوې څېړنیزه شننه ښکاره کوي چې په اوږد مهاله توګه د پور پاڼو په صادرولو سره، په ډالرو د پور ورکړې کچه په حیرانوونکي توګه راکمه شوې ده، حال دا چې د اوږد مهاله پور پاڼو په صادریدو سره د ډالري امانتونو په کموالي کې هیڅ بدلون راغلی نه دی. د ډالري اقتصاد د له منځه وړلو په اړه په ۲۰۱۲ کال کې د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) خپور شوی راپور ښکاره کوي، هغه هېوادونو چې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي بهیر یې په بریالیتوب سره ترسره کړی، اوس مهال ښه لوی اقتصاد، د اقتصادي ودې لوړه کچه او ښه مالي او بهرنی بیلانس لري او هر کال په دوامدره توګه له کمي پوروونو څخه د هغو هېوادونو په پرتله چې په خپل اقتصاد کې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي په هڅه کې بریالي نه دي، کار اخلي. دا راپور زیاتوي چې په بریالیو هېوادونو کې د انفلاسیون نرخ په اوسط ډول له ۱۴ سلنې څخه ښکته ساتل شوی او د مبادلې نرخ یې هم ثابت پاتې شوی دی. که څه هم نا بریالي هېوادونو په دوامداره توګه د انفلاسیون لوړ نرخ او د مبادلې ټیټ نرخ تجربه کړی دی. د دې

«

راپور پر بنسټ کولای شو ووایو چې د لوی اقتصاد ثبات ممکن د ډالرو کاروني څخه د مخنيوي تر ټولو لوی عامل وي. د لوی اقتصاد له دوامداره ثبات پرته کېدای شي د ډالرو د له منځه وړلو هڅې معکوسه اغېزه ولري او د نامطلوبه پايلو د رامنځته کولو ترڅنګ په ټول اقتصاد باندې منفي اغېزې وکړي.

**پایله**

ډالري اقتصاد په افغانستان کې کومه نوې پدیده نه ده. د مبادلې د وسیلې او د ارزښت د زیرمه کولو په موخه د هېوادوالو لخوا د بهرنیو اسعارو پراخه کارونه آن د کورنیو جګړو پرمهال پیل شوې ده. په ملي پیسو باندې د ډاډمنتیا کموالی هغه لامل دی چې په هېواد کې یې د ډالري اقتصاد پراختیا ته لاره هواره کړې او همدا ډول اوږد مهاله سیاسي او امنیتي ګډوډي، د لوی اقتصاد د ستراتیژیک مدیریت نشتوالی، په تېرو کلونو کې د انفلاسیون لوړوالی او د مبادلې د نرخ د شدیده نوسانونو په ګډون یو شمېر نورو بنسټیزو لاملونو په ملي پیسو د باور کچه راکمه کړې ده.

همدا ډول د ډالري بهیر له کمېدو سره سره اوس هم اسعاري امانتونه د هېواد په بانکي نظام کې د ټولیزه امانتونو شاوخوا ۶۶ سلنه جوړوي، چې دې شمېرې/سلنې افغانستان په نړیواله کچه د لوړ ډالري اقتصاد لرونکو هېوادونو په ډله کې راوستی دی. د اټکل له مخې، په ګردښت کې د بهرنیو اسعارو تر ټولو لوړه ونډه شاوخوا ۴۷۴ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې په ګردښت کې د ملي پیسو د اوسنۍ ونډې نږدې درې برابره جوړوي.

د ډالري اقتصاد د بېلابېلو اړخونو تر څېړلو او د افغانستان په شان په نسبتاً کوچني او پرانیستي اقتصاد کې د هغه د لګښتونو او ګټو تر ارزولو وروسته مونږ دې پایلې ته رسېږو چې ډالري اقتصاد زمونږ اقتصاد لپاره ارزښتناکه او اغیزمن دی. په ورته وخت کې د ډالري اقتصاد اړوند لګښتونه لکه د اسعارو نه مطابقت، د بانکنوټونو د چاپ زیانونه او د پولي سیاست نا اغیزناکي چې د ګټې په پرتله یې زیان ډېر وي، د پام وړ زیات دي. له همدې امله، مونږ د یو لړ پالیسیو د جوړېدو چې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي اقتصادي، مقرراتي او اداري اړخونه تر پوښښ لاندې ونیسي، وړاندیز کوو چې د هغه په تطبیقولو سره به په هېواد کې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي بهیر په دوامداره توګه وساتل شي.

د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي په برخه کې نړیوالې تجربې ښکاره کوي چې په دوامداره توګه د ډالرو د له منځه وړلو لپاره کومه لنډمهاله او اسانه لاره شتون نه لري. په ټولیزه توګه، هغه هېوادونو چې په دوامداره توګه د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي پر وړاندې یې د بازار له لارې مبارزه کړې، د هغو هېوادونو په پرتله چې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي کې یې له اداري فشار څخه کار اخیستی دی، ډېر بریالي دي. مونږ باید په دې پوه شو چې د ډالرو کاروني څخه د مخنیوي یوه اوږده پروسه ده او دې کار لپاره د لوی اقتصاد ثبات یو اړین شرط ګڼل کېږي. تر څو چې مونږ د خپل اقتصاد اوسنۍ او ژورې جوړښتیزې کمزورتیاوې حل نه کړو، تر هغې پورې نه شو کولای په دې برخه کې کومه مطلوبه پایله ولرو. له همدې امله، مونږ په دې اند یو چې د لوی اقتصاد ثبات او قانوني سمونونه له ډالرو سره په ټینګې مبارزې کې اړین شرطونه ګڼل کېږي.●

ملپاڼې:

(په افغانستان کې په ګردښت کې د پیسو د کچې اټکل)

- د پیسو د عرضې د فورمول په کارونې سره ملي پیسو لپاره د پولي ضریب ترلاسه کول (mm)
- د پیسو عرضه = په ګردښت کې پیسې (CiC) + ټولیزه امانتونه
- پولي زېرمې = په ګردښت کې پیسې (CiC) + له د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو امانتونه

$$MM = Ms/R$$

$$MML = (CiC + TD)L / (CiC + R)L$$

$$MML = (175,800 + 70,528)L / (175,800 + 21,634)L = 1.25$$

د افغانۍ او اسعارو د ضریب د ترلاسه کولو فرضیه

$$MMF = (CiC + TD)F / (CiC + R)F = 1.25$$

$$CiCF = [(mmF + RF) - TDF]/(1 - mF)]$$

په ګردښت کې اسعارو = ۴۶۷ میلیارده افغانۍ

د بانکنوټونو د چاپ لګښت: د ۳۰ میلیارده افغانیو چاپول شاوخوا ۱ میلیارده افغانۍ لګښت لري.

د بانکنوټونو د ضریب خسارې ( په لوړه کچه): شاوخوا ۴۶۰ میلیارده افغانۍ دی.

**د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه**

## نشست هیئت رهبری د افغانستان بانک با بانکهای دولتی، پیرامون راهکارهای جلوگیری از پولشویی



کابل ۲ اسد ۱۳۹۸- محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک در رابطه به راهکار مبارزه با پولشویی با بانکهای تجارتی دولتی، تدویر جلسه نمود.

در این نشست سرپرست د افغانستان بانک گفت که د افغانستان بانک منحیث قانونگذار بانکهای تجارتی و ناظر بر فعالیت های شان همواره تلاش نموده تا زمینه رشد و توسعه نظام بانکی را فراهم و تطبیق قوانین بانکی را رعایت نماید.

محترم نوشیر افزود که رعایت و تطبیق قانون مبارزه با پولشویی، شفافیت را ایجاد نموده و سبب افزایش اعتبار نظام بانکی میگردد.

در این جلسه روی راهکار مبارزه با پولشویی و مقرره های ایجاد شده از جانب د افغانستان بانک در رابطه به قانون مبارزه با پولشویی، بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

## په پلازمینه کابل کې د افغانیو زاړه بانکنوټونه وسوځول شول





کابل، د ۱۳۹۸ کال-د زمري ۸ مه - د افغانستان بانک د قانون د ۳۹ او ۴۲ مادې پربنسټ (۲،۰۳۵،۲۳۵،۰۰۰) له کاره لوېدلو زړو افغانیو بانکنوټونه د افغانستان بانک او یو شمېر نورو اړوندو ادارو د استازو په وړاندې وسوځول شول.

د یادو پیسو سوځولو پر مهال د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي وویل چې په افغانستان کې له پیسو څخه د سمې ساتنې کلتور باید دود شي، ترڅو د پیسو له ژر زړېدو څخه مخنیوی وشي.

په ورته وخت کې د ملي شورا هغه استازو چې د افغانیو د زړو بانکنوټونو د سوځولو او له منځه وړلو پر مهال یې خبرې کولې له ټولو هېوادوالو څخه وغوښتل چې د افغانیو ساتنه کې پوره پام وکړي، تر څو له ژر زړښت څخه یې مخنیوی وشي.

که څه هم د افغانیو بانکنوټونه په لوړ کیفیت چاپ شوي، خو په ورځنیو چارو کې له دې پیسو څخه د خلکو د ناسمې ساتنې او ناوړه کارولو له امله ژر زړېږي او په بیاځلي چاپ یې لګښت راځي.

د یادونې وړ ده چې په یادو بانکنوټونو کې د ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ او ۱۰۰۰ انواعیې شامل وو، چې د ملي شورا غړو (مشرانو جرګې او ولسي جرګې) د عدلیې او مالیې وزارتونو او امنیتي ادارو د درنو استازو په وړاندې د ده سبز ولسوالۍ اړوند سیمه کې د زړو بانکنوټونو د سوځولو په هدف جوړه شوې احاطه کې وسوځول.

پاتې د نه وي چې په دې پروسه کې د افغانستان بانک د یو شمېر آمریتونو آمرینو هم ګډون کړی وو.

# د مالیزیا له نیګارا بانک سره د مالي معلوماتو د تبادلې هوکړه لیک لاسلیک شو

د افغانستان بانک د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي قانون د ۳۱ مې مادې پر بنسټ، د مالیزیا نګارا بانک د مالي استخباراتو له واحد سره د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او د نورو اړوندو اصلي جرمونو په تړاو د مالي معلوماتو د تبادلې په برخه کې د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک کړ.

دا هوکړه لیک د ۱۳۹۸هجري لمریز کال د زمري میاشتې په ۲۸ نېټه، د استرالیا په پلازمینه د کانبرا په ښار کې د آرام اقیانوس د ډلې ( APG ) په کلنۍ ناسته کې لاسلیک شو.

د دې هوکړه لیک موخه د همکارۍ لپاره د یوې اډانې رامینځته کول، د مالي معلوماتو د تبادلې ګړندي کول، د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او نورو اصلي جرمونو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د یو اغیزناکه میکانیزم او همغږۍ رامینځته کول دي.




د دې هوکړه لیک پر بنسټ، د افغانستان بانک د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز او د مالیزیا نګارا بانک د مالي استخباراتو واحد د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او د نورو اړوندو اصلي جرمونو د څېړنو په برخه کې د همکارۍ په موخه په اتومات ډول او یا د دواړو اړخونو د غوښتنې په اساس د مالي معلوماتو د راټولولو، شننې، څېړنې او د مالي معلوماتو د تبادلې اسانتیا ته ژمن دي.

د یادونې وړ ده چې د دوه اړخیزو همکاریو په لړ کې، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز له دې مخکې هم له بهرنیو ورته ادارو سره د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او د نورو اصلي جرمونو د مالي معلوماتو د تبادلې په برخه کې د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي.

# د افغانستان بانک د مالي چارو سلاکار معرفي شو



کابل، د ۱۳۹۸ کال د زمري ۲۷ مه ـ ښاغلي سید عبدالغفور سادات په مالي برخه کې د افغانستان بانک د ریاست د عالي مقام د سلاکار په توګه په دنده وګمارل شو.

نوموړی د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر او د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي له لوري د دې بانک د بېلابېلو آمریتونو آمرینو او مرستیالانو ته ور وپېژندل شو.

د ښاغلي سادات د پېژندنې په مراسمو کې د افغانستان بانک د رهبري پلاوي له لوري په مخکنیو دندو کې د نوموړي د چارو او ارزښت ناکو خدمتونو ستاینه وشوه او په نوې دنده کې یې ورته د لا زیاتو خدمتونو د ترسره کولو هیله وښووده.

په یادو مراسمو کې ښاغلي سادات په نوموړي د باور له کبله د افغانستان بانک له مشرتابه مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې په پوره انرژۍ سره به ورسپارل شوې دنده تر سره کوي.

ښاغلي سید عبدالغفور سادات په اداري، مالي او اقتصادي برخو کې د مالیزیا، امریکا او انګلستان هېوادونو په معتبرو پوهنتونونو کې زدکړې کړې دي او په یادو برخو کې درې ماسټرۍ لري.

د یادونې وړ ده چې نوموړي له دې وړاندې د افغانستان بانک د مالي ټینګښت آمریت د آمر او د دې بانک د مالي خدمتونو د پراختیا آمریت د سلاکار په توګه دندې تر سره کړې دي.

# هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان تدویر جلسه نمود

جلسه هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان، تحت ریاست محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک و رئیس هیئت مدیره AIBF راه اندازی شد.

در این نشست ابتدأ محترم لطف الحق نور پسرلی رئیس انستیتوت مالی و بانکداری افغانستان در مورد عملکردهای انستیتیوت طی ربع دوم سال مالی ۱۳۹۸ معلومات جامع را شریک نموده و روی پلان های آینده آن صحبت نمود.

محترم واحدالله نوشیر طی این جلسه ضمن قدردانی از پیشرفت، در رابطه به تسریع و بهبود هر چه بهتر کارهای انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان رهنمایی های لازم ارائه نموده گفت که د افغانستان بانک با انستیتیوت متذکره آمادهٔ هر نوع همکاری میباشد.

قابل ذکر است که در این نشست محترم بهرام برزین، داکتر سالم امید اعضای هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری و سید عبدالغفور سادات مشاور مالی د افغانستان بانک نیز اشتراک ورزیده بودند.

# د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې د "رهبرۍ په کچه" دويم روزنيز پروګرام جوړ شو




کابل، د ۱۳۹۸ کال د زمري۱۴ مه ــ د بشري سرچينو لوی آمريت د ۱۳۹۸ کال له پيل څخه د بانک د کارکوونکو لپاره د رهبرۍ په کچه ګټور روزنيز او د عامه پوهاوي پروګرامو نه په پام کې نيولي دي، چې په دې لړ کې يې د ماليزيا هېواد د اسلامي بانکدارۍ او تجربو په اړه چې دا هېواد په ياده برخه کې نوښتګر هېواد دی، د دې بهير دويم روزنيز پروګرام جوړ کړ.

په لومړي سر کې د افغانستان بانک د اسلامي بانکدارۍ د آمريت له لوري د دې بانک د بېلابېلو آمريتونو آمرينو او مرستيالانو ته د ماليزيا هېواد د اسلامي بانکدارۍ د تجربو په اړه معلوماتي پريزنتيشن وړاندې شو.

ياد پريزينتيشن چې د اسلامي بانکدارۍ د عمومي آمريت د آمر ښاغلي ډاکتر محمد يوسف سليم له لوري وړاندې شو په کې له ګډونوالو سره د ماليزيا هېواد د بانکدارۍ او مالي سيستم په اړه هر اړخيز معلومات شريک شول.

نوموړي د پريزينتيشن د وړاندې کولو په مهال يادونه وکړه چې ماليزيا د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې نوښتګر هېواد دی او په دې برخه کې يې ډېر پرمختګونه رامنځته کړي دي.

د ښاغلي سليم په خبره دا مهال په ماليزيا کې اسلامي بانکونه له نورو سوداګريزو بانکونو سره څنګ په څنګ کار کوي او دا چاره د دې لامل شوې ده چې په ياد هېواد کې دا بانکونه زيات کړي.

نوموړي همدا رنګه د اسلامي بانکدارۍ سيستم د خورا ارزښت وړ ياد کړ او يادونه يې وکړه چې که څه همدا مهال په افغانستان يو بانک په ټوليز ډول د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې کار کوي او په زيات شمېر نورو بانکونو کې د اسلامي بانکدارۍ څانګې فعالې دي، خو هيله يې وښوده چې په هېواد کې به اسلامي بانکداري نوره هم وغوړېږي او پرمختګ به وکړي.

ديادونې وړ ده چې په دې پروګرام کې د ګډونوالو ترمنځ نظرونه تبادله شول او پوښتنو ته ځوابونه وويل شول.

# د افغانستان بانک له خوا د غازي امان الله خان په مزار د ګلونو ګېډۍ کېښودل شوه



د افغانستان بانک له خوا د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلېزې د لمانځنې په وياړ د بېلا بېلو پروګرامونو ترڅنګ د ګلونو يوه ګېډۍ چې د غازي امان الله خان تصوير پرې پوښل شوی وو، د ننګرهار ولايت په جلال آباد ښار کې د غازي امان الله خان په مزار کېښودل شوه.

په دې مراسمو کې د افغانستان بانک د ختيځ زون آمر ښاغلي احمدزي توحيد يار او همدا ډول د ننګرهار ولايت د افغانستان بانک اقتصادي کارپوه ښاغلي تاج محمد تمکين د خپلواکۍ د اهميت او د غازي امان الله خان د کارنامو او برياوو ترڅنګ وويل چې د افغانستان بانک له ټولو کارمندانو څخه منــنه کوو چې سږکال يې د خپلواکۍ د جشن په لمانځنې کې له هيڅ ډول هڅې او هاندونو څخه دريغ نه دی کړی.

## راه اندازی مسابقات دوستانه فوتبال و کرکت به مناسبت صدمین سالروز استقلال کشور





د افغانستان بانک به سلسله برنامه های بزرگداشت از صدمین سالروز استرداد استقلال کشور، مسابقات دوستانه فوتبال و کرکت را نیز تنظیم و راه اندازی نمود.

مسابقه فوتبال میان تیم فوتبال د افغانستان بانک و تیم روشن و مسابقه کرکت میان تیم کرکت د افغانستان بانک و ام تی ان راه اندازی گردید.

در مسابقه فوتبال که در استدیوم غازی شهر کابل راه اندازی گردیده بود، د افغانستان بانک توانست پنج در مقابل دو، بر تیم فوتبال روشن غلبه نماید.

بازی کنان تیم فوتبال د افغانستان بانک در مقابل بازی کنان تیم روشن برتر میدان بودند و اولین گول این بازی توسط مبین به ثمر رسید. در این مسابقه بازی کنان تیم د افغانستان بانک زاهد، آصف و خادم یک یک و مبین دوگول را به دروازه تیم مقابل، وارد نمودند.

قابل یادآوریست که تیم فوتبال روشن نیز دو گول را وارد دروازه تیم بانک نمود. تیم فوتبال روشن از جمله تیم های بسیار خوب شمرده میشوند که در چندین مسابقه دوستانه در بیرون از کشور به پیروزی دست یافته اند.

به همین ترتیب د افغانستان بانک برای بزرگداشت از صدمین سالروز استرداد استقلال کشور در کنار سایر برنامه های که دارد، مسابقه دوستانه کرکت را با تیم MTN راه اندازی نمود. این مسابقه ۲۰ آوره در استدیوم ورزشی کرکت راه اندازی گردیده بود. ابتدا، بازی را تیم کرکت ام تی ان آغاز و با از دست دادن همه بازیکنان اش، ۱۹۴ دوش را برای تیم د افغانستان بانک هدف تعیین نمود. سپس تیم کریکت د افغانستان بانک بازی را آغاز نمود که با تفاوت ۱۳ دوش مسابقه را به تیم ام تی ان واگذار نمود.

## پاس یا POINT OF SALE چیست؟

POS مختصر Point Of Sale یا "نقـطه فروش" اسـت و بـه دستگاهی گفته می شـود که در درب خروجی فروشـگاه های بـزرگ، رستورانت ها و نظایر آن بـرای حصول یا دریافت پول مشتری مورد استفاده قرار می گیرد و کار خرید و فروش را بـرای فروشنده گان و خریداران سهل ساخته است.

این دستگاه از طریق ارتباط تلیفونی یا شبکه ای بـا سیستم بـانکی مرتبط است و دارنده گان حسابات بانکی میتوانند پول خرید یک جنس را از طریق همین دستگاه و بـا اسـتفاده از کارت اعتبـاری بدون اینکه پول نقد نزد خود داشته باشند، پرداخت نمایند.



# اقتصادي خبرونه

## رایزنی بانک جهانی برای توسعهٔ افغانستان پس از صلح احتمالی با طالبان

دفتر بانک جهانی در افغانستان اعلام کرد که برای برنامه‌ریزی انکشافی در این کشور پس از توافق احتمالی صلح با طالبان، رایزنی را آغاز کرده است.

بر بنیاد اعلامیه بانک جهانی، تا حالا چندین دور نشست های مشورتی با نمایندگان جامعهٔ جهانی و افغانستان برگزار شده است.

هنری کرالی، رییس دفتر بانک جهانی در افغانستان گفت که دست یافتن به توافق صلح می‌تواند زمینهٔ رشد اقتصادی پایدار و ایجاد فرصت های انکشافی را در این کشور فراهم سازد.

آقای کرالی، نیز گفت که تلاش‌ها برای تامین صلح در افغانستان به یک نقطه عطف رسیده است؛ اما به گفتهٔ وی، بانک جهانی در روند مذاکرات صلح میان جوانب هیچ نقشی ندارد و در این راستا می تواند تحلیل جامع از وضعیت و مشوره‌های تخنیکی ارایه دهد.

بانک جهانی می‌گوید که در کنفرانس ۲۰۱۸ در ژنیو از آنان تقاضا شد تا یک برنامه جامع را برای هماهنگی پروژه های توسعه‌یی و کمک‌های جهانی برای رشد اقتصادی و کاهش فقر در افغانستان پس از توافق صلح ترتیب کند.

رییس این بانک در افغانستان تاکید کرد که رایزنی و گرفتن دیدگاه مردم آنان را کمک می‌کند تا برنامه اقتصادی مبتنی بر نیازمندی های شهروندان افغان را روی دست گیرند.

بانک جهانی که برای پایان دادن به فقر جهانی کار میکنند، برای رشد اقتصادی پایدار و فراهم کردن زیربناهای افغانستان فعالیت دارد و تا اکنون در این بخش نزدیک به ۴.۴ میلیارد دالر به این کشور کمک کرده است.

همچنان، این بانک امور صندوق بازسازی افغانستان را به پیش می‌برد و این صندوق برای بازسازی افغانستان ۱۱.۴ میلیارد دالر سرمایه‌گذاری کرده است.

## پاکستان د ترهګرۍ د مالي تمویل د څار ټولنې تر نظر لاندې دی

د غیر قانوني پیسو د تطهیر او د ترهګرو د مالي تمویل د منابعو په وړاندې د مبارزې نړیواله ټولنه به د اکتوبر د میاشتې تر غونډې د مخه د ترهګرو سازمانونو د مالي تمویل په وړاندې د پاکستان مبارزه وڅاري.

د پیسو د تطهیر پر وړاندې د مبارزې د آسیا پسفیک ډلې (Asia Pacific Group on Money Laundering) په استرالیا کې په خپله تازه غونډه کې د هغو هېوادونو په اړه رپوټونه وڅېړل چې د ترهګرو د مالي تمویل اړوند په خړ لست کې شامل شوي دي.

پاکستان او څو نور هېوادونه د پیسو تطهیر او د ترهګرو د مالي منابعو د تمویل د نه کنټرولولو له کبله په دغه لست کې شامل شوي دي.

ټاکل شوې چې دغه ډله به په دې اړه خپله وروستی پریکړه د روان کال د اکتوبر په میاشت کې وکړي او خپل رپوټ به خپور کړي.

د څار دغه نړیوالې ټولنې پاکستان ته د اکتوبر تر میاشتې وخت ورکړی وو چې د ترهګرو د مالي تمویل په وړاندې د مبارزې چارې پیاوړې کړي او که نه نو د

سختو اقداماتو سره به مخ شي.

په همدې ترځ کې یو شمېر هندي رسنیو د آګسټ په ۲۳ مه رپوټ ورکړی چې د څار ډلې ټولنې پاکستان په تور لست کې شامل کړی دی، خو د پاکستان د مالیې وزارت دغه ډول رپوټونه رد کړي او هغه یې بې بنسټه ګڼلي دي.

پاکستان باید په هرو دریو میاشتو کې د پیسو د تطهیر او د ترهګرو د مالي تمویل په وړاندې د خپلې مبارزې د پرمختیا په اړه د څار نړیوالې ادارې ته رپوټ ورکړي.

د Financial Action Task Force، د ټولنې په خړ لست کې په شاملېدو سره پر پاکستان باندې اقتصادي فشارونه زیات شوي او د پیسو د نړیوال صندوق او نړیوال بانک څخه ورته پور اخیستل مشکل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې پاکستان د دې هېواد د پخواني صدراعظم نواز شریف په ګډون یو شمیر لوړپوړي چارواکي د پیسو د تطهیر په جرم بندیان کړي وو.

## د هلمند د انارو په حاصلاتو کې زیاتوالی راغلی

د هلمند د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي، چې د دې ولایت د انارو سږنۍ حاصلات د کمیت او کیفیت له پلوه ښه او ډېر شوي دي.

د یاد ریاست مسئولین وایي، چې د دې ولایت په ۱۱۶۵ هکټاره ځمکه کې د انارو بڼونه جوړ شوي دي، چې هر هکټار یې ۲۱ټنه حاصل ورکوی او په دې سره به د هلمند د انارو سږنۍ حاصلات ۲۴ زره او ۴۶۵ ټنو ته ورسېږي.

د هلمند دکرنې رییس زلمی الکو وایي، چې د کرنې ریاست په هلوځلو د خصوصي سکټور پرمټ په دې ولایت کې د انارو پر ۱۷ ډولونو څېړنې تر سره شوې دي، چې لومړنۍ پایلې یې ښې او مثبتې ارزول شوي دي.

د انارو دغه ۱۷ ډولونه، چې پرې څېړنې شوې په ډېر لنډ وخت کې مېوه نیسي، ونې یې ټیټې او د ښه کمیت او کیفیت لرونکي دي.

د دوی د معلومات پر بنسټ د هلمند دکرنې ریاست په پام کې لري چې سږکال هم د دې ولایت بڼوالو او ځمکوالو ته له ۳ تر ۵ سوه جریبه ځمکه د انارو نوی بڼونه جوړ کړي او د دې جوړېدونکو بڼونو نیالګي به د اصلاح شویو نیالګیو د روزنې له نرسریو پېري او د بڼوالو او ځمکوالو په واک کې به ورکول کیږي.

سرچینې:

۱- صدای امریکا، تاریخ نشر: اسد ۳۱، ۱۳۹۸

https://www.darivoa.com/a/world-bank-launches-consultations-for-supporting-Afghanistan-after-peace-deal/5052316.html

۲- د امریکا غږ، د خپرېدو نېټه: وږی ۰۱، ۱۳۹۸

https://www.pashtovoa.com/a/global-watchdog-to-monitor-pakistan-s-progress-in-tackling-militant-funding/5054143.html

۳- د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، د خپرېدو نېټه: پنجشنبه ۱۳۹۸/۵/۱۷ - ۸:۲۶

https://mail.gov.af/index.php/ps/د-هلمند-د-انارو-سږنۍ-حاصلات-۲۴-زره-او-۴۶۵-ټنو-ته-رسېږي

# د اروپا د ادainو بهیر د بدلیدو په حال کې دی

**د ادainو په برخه کې د اروپا د سترو بدلونونو اصلي لاملونه د نویو ټیکنالوژیو رامنځته کېدل، په مقرراتو کې بدلونونه او هغه مشتریان ګڼل کېږي چې له خپلو بانکي شریکانو څخه د ادainې په بهیر کې د چټکتیا، اسانتیا او روڼتیا غوښتنه کوي.**

د پېرودونکو (مشتریانو) په چلند کې بې ساري بدلونونه په دواړو (کوچني او ګڼو بانکوالۍ کې) د ادainو د اجنډا عمده برخې جوړوي. مرکزي بانکونو اوس مهال سوداګریز بانکونه دې ته اړ کړي دي چې د ټیکنالوژۍ په مرسته آسانه، چټکه او اغیزناکه خدمتونه وړاندې کړي.

په HSBC بانک کې د مالي ادارو، نړیوالې نقدینه ګۍ او د نغدو پیسو د مدیریت د نړیوالې څانګې مسؤولې اغلې نادین لاګرمیټ (Nadine Lagarmitte) وایي "ټول پېرودونکي (مشتریان) ترې ورته غوښتنې لري: چې دا غوښتنې په مناسبه بیه چټکه، اسانه او رڼې ادainې رانغاړي. "همدا ډول هغه زیاتوي" زه فکر نه کوم چې د تېرو لسو کلونو په اوږدو کې مونږ د مشتریانو د چلند په شرایطو او د اروپا د ادainو په برخه کې ډیر فعالیت کړی وي".

د چارو تنظیمونکي ادارو دې بهیر ته د بانکدارۍ په پرانیستلو سره ځواب ورکړی دی او نوي لوبغاړي په ځانګړي توګه غیر بانکي سکتور یې بازار ته په ننوتلو برلاسی کړی دی. "مقررات له مونږ سره د چلند په لارښوونه کې مرسته کوي او مونږ د دې جوګه کوي چې څنګه د خپلو پېرودونکو د اړتیاوو ملاتړ وکړو." همدا ډول مقررې لکه د اروپا د ادainو د خدمتونو لارښودنې (۱ او ۲) د بانکدارۍ له پرانیستلو او ټیکنالوژۍ سره یو ځای چې APIs، مصنوعي ماشینونه (AI) او کلاوډ رانغاړي، د بانکونو او غیر بانکي ادارو په ګډون د ادainو د خدمتونو د وړاندې کوونکو لپاره فرصتونه چمتو کړي دي.

لاګرمیټ ټیکنالوژي په دوه برخو ویشلې ده: چې یو یې مشتریانو ته د چینل (the front end) او بل یې د بک افیس په نوم یادېږي. "یو بانک ښایي د ټیکنالوژۍ له پلوه مشتري ته د چینل په برخه کې ډېره پوهه ولري، خو که چېرې دا بانک په بک افیس کې پوهه ونلري، نو بیا هغه پایله چې مشتري او بانک یې دواړه غواړي، ترلاسه کېدای نه شي."

**په اروپا کې د مالي ټکنالوژۍ (Fintech) فعالیت**

د HSBC په بانک کې د اروپا د مالي ادارو د پلور د څانګې، نړیوالې نقدینه ګۍ او د نغدو پیسو د مدیریت سیمه ایز لوی رئیس ښاغلی کلیف ټراینس (Clive Triance) وایي. د مالي ټکنالوژۍ(fintechs) اغیز د نړیوالو ادainو په لید لوري باندې لا تر اوسه پورې دومره زیات نه دی. په هر حال، هغه زیاتوي چې د مالي ټکنالوژۍ اداره " یقیناً بازار ته نوي نظرونه وړاندې کړي او مونږ ډېری وخت دې ادارې ته د سیال (رقیب) په پرتله د یو شریک په سترګه ګورو."

بانکونه او د مالي ټکنالوژۍ ادارې هغه " د پام وړ بېلابېلې ادارې" دي چې مختلف مهارتونه لري. د بیلګې په توګه، مالي ټکنالوژۍ کولای شي چې په چټکۍ سره د نوي ټکنالوژۍ ازمایښت ترسره او بازار ته محصولات وړاندې کړي. بانکونه کولای شي چې په دې برخه کې لومړی ارزونه او بیا پرېکړه وکړي چې د مالي ټکنالوژۍ له کومې ادارې څخه د همکارۍ غوښتنه وکړي. ټراینس وایي "بانکونه خوښ دي چې د مالي ټکنالوژۍ اداره بازار ته نوې نظرونه وړاندې کوي او له دوی سره د بانکي او مالي ټکنالوژۍ په برخه کې همکاري کوي."

که څه هم بانکونه اوس مهال د مالي ټکنالوژۍ له لوري له خطر سره مخ نه دي، خو که چیرې دوی د خپلو سوداګریزو موډلونو په بدلولو پیل وکړي او د خپلو مشتریانو اړتیاوې پوره کړي، ښایي چې دا قضیه نوره د تل لپاره وتړل شي. ښاغلی ټراینس »

زیاتوي چې "د اداینو په برخه کې مونږ له یوې داسې نړۍ سره د مخ کېدو په حال کې یو چې ځلانده بروشورونه او فزیکي لیکنې د یو ډیجیټلي ټیکنالوژۍ پر بنسټ په یو او یا دوه کلیکونو سره بدلوي. راتلونکی نسل به هر څه په چټکۍ او همدا ډول په اسانۍ سره غواړي."

**په اروپا کې د لید لوري بدلېدل**

د یو کلیک او چټک ځواب لپاره د مشتري تقاضا له کوچنۍ بانکوالۍ څخه پیل شوې ده، خو دا پدیدې په ډېرې چټکتیا سره په سهامي بانکونو کې خپره شوې ده. هغه وایي چې د لګښت کوونکي/ مشتري په توګه، خلک د بانکي خدمتونو له چټکتیا او روڼتیا سره چې د ډیجیټلي ټیکنالوژي لخوا وړاندې کېږي، عادي شوي دي. دوی اوس غواړي چې په خپل کاري چاپېریال کې ورته ګټې تجربه کړي. همدا ډول هغه زیاتوي چې "د شرکت د مالي چارو مسؤولین (خزانداران) اوس مهال د روڼتیا په ځانګړې توګه د چټکتیا په برخو کې د پام وړ پرمختګونو لپاره د هغو بانکونو په لټه کې دي چې دوي ته روښانه کړي چې څومره لګښتونه او چېرته اداینې وکړي."

د HSBC بانک هغه لومړنی بانک دی چې د سویفټ د نړیوالو اداینو نوښت (GPI) یې تجربه کړی دی، چې په دې کار سره یې د مشتریانو هر ډول غوښتنو او اړتیاوو ته رسیدنه کړې ده. په ۲۰۱۸ کال کې د سویفټ سیستم د نړیوالو اداینو د نوښت (GPI) له لارې شاوخوا ۴۰ تریلیونه امریکایي ډالره لېږل شوي دي. د نړیوالو اداینو د نوښت (GPI) په کارولو سره د سویفټ سیستم له لارې د پولو ترمنځ د پیغامونو شمېر د ۲۰۱۸ کال د پیل له ۱۵ سلنې څخه د همدې کال په پای کې ۵۶ سلنې ته د پام وړ لوړه شوې ده چې د کال په کال محاسبې له مخې ۲۷۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. ټراینس وایي چې په HSBC بانک کې شاوخوا ۹۰ سلنه اسعار کارول کیږي چې ډېری یې د نړیوالو اداینو په نوښت (GPI) کې شامل دي او "ستر مبلغونه" قبلوي.

همدا ډول نوموړې د نړیوالې اداینې نوښت "د اداینو د یو پي اس (UPS)" په توګه تشریح کوي، ځکه چې یوې اداینې ته د شخص د هویت په اړه د معلوماتو په ضمیمه کولو سره اجازه ورکوي چې په دې کار سره د سویفت سیستم کاروونکي برلاسي کېږي، څو هره اداینه د هغه د مودې (لایف سایکل) له لارې تعقیب کړي. "اوس مهال حقیقت دا دی چې تاسو کولای شئ اداینه وکړئ، نه یوازې دا چې څومره په چټکۍ سره اداینه ترسره شوې ده، بلکې چېرته د اداینې د مودې (لایف سایکل) له لارې ترلاسه شوی دی." په همدې ترتیب نړیوالتوب پراختیا پیدا کوي او ډېری پېریدنې د پولو تر منځ ترسره کېږي، د انفرادي اداینو بهیر به د شرکتونو له خزانه دارانو سره مرسته وکړي.

د سویفټ د نړیوالو اداینو نوښت (GPI) به په راتلونکي کې د پام وړ وده وکړي ځکه چې ډېری بانکونه په دې نوښت کې د خپلو نومونو د ثبتولو لیوالتیا او اراده لري. تر ۲۰۲۰ کاله پورې، د سویفټ اداره هیله لري چې په ټوله نړۍ کې ۱۰۰۰۰ کاروونکي بانکونه ولري.

کلیف ټراینس وایي چې د نړیوالې اداینې د نوښت ارزښت ورځ تر بلې زیاتېږي، ځکه چې ډېری بانکونه هغه ته ارزښت ورکوي. په پای کې د اداینې کوونکي او د اداینې ترلاسه کوونکي په دې ښه پوهېږي چې اداینې ورته څنګه کېږي او څومره ارزښت لري.

د HSBC بانک باور لري چې د نړیوالو اداینو نوښت (GPI) به د بانکدارۍ د صنعت کارنده طریقه بدله کړي. ټراینس وایي: "مهمه خبره دا ده، که چېرې پوهېږئ چې ستاسو اداینه چېرته کیږي، څومره وخت نیسي او څومره لګښت پرې راځي، نو په دې سره تاسو کولای شئ چې د خپلو اداینو د لېږلو په اړه پرېکړې وکړئ". د اداینو جریانونه به ډېری هغه ګټورو بانکونو ته ولېږدول شي چې د خپلو مشتریانو لپاره په دې برخه کې کره او دقیق معلومات وړاندې کوي.

هغه زیاتوي چې د نړیوالو اداینو د نوښت (GPI) تر شاه ټیکنالوژي دومره پرمختللې نه ده، بلکې "خورا چټکه ټیکنالوژي کولای شي بانکونه سره ونښلوي او د یوې معاملې

»

دوران رامنځ ته کړي". په شفافه توګه د ادارینو په اړه د معلوماتو په وړاندې کولو سره بانکونه کولای شي چې د شرکتونو له خزانه دارانو سره مرسته وکړي څو د ترسره شویو ادارینو بهیر ته ښه والی ورکړي او خپل لګښتونه په ښه توګه وڅاري.

کلیف ټراینس وایي: "اوس مهال مونږ کولای شو چې د مالي ټکنالوژۍ له ادارې (Fintechs) سره یو ځای کار وکړو، څو دې ستونزې ته د حل لاره پیدا کړو. د مالي ټکنالوژۍ اداره چې اوس مهال ښه بازار لري، مونږ خوښ یو چې له دې شرکتونو سره د کار کولو فرصت لرو."

**په اروپا کې د پرانیستي بانکدارۍ فرصتونه**

د جنورۍ په میاشت کې د لندن لابراتوار (Lab) اعلان وکړ چې د مالي ټکنالوژۍ (fintechs) ۲۰ پرمختللې ادارو د خپلو ټکنالوژیو او سوداګریزو موډلونو د کچې د معلوملو او پراختیا لپاره د مالي ټکنالوژۍ (fintechs) په وروستي درې میاشتني ګټور پروګرام کې ګډون کړی دی. په روان کال کې د پرانیستې بانکدارۍ لپاره یو اضافي جریان په پام کې نیول شوې دی.

لاګرمیټ وایي: کله چې په اروپا کې پرانیستې بانکداري د یوې مقررې په توګه معرفي شوې، ورته "ذهنیت" د نړۍ په نورو برخو کې هم وټاکل شو. په نړیواله کچه، د ادارینو د خدمتونو له وړاندې کوونکو څخه د معلوماتو د راټولولو وړتیا اوس مهال په یو نورم (معیار) بدله شوې دی." فکر کوم، مناسبه ده ووایم چې په بریتانیا او اروپا کې د ادارینو اړوند ښځبنسټونه په لمړیتوب کې دي." د بیلګې په توګه، بریتانیا او اروپا د پرانیستې بانکدارۍ او چټکه ادارینو لپاره د یوې داسې لارې په لټه کې دي چې اوس مهال د پراختیا او پیاوړتیا اوج ته رسیدلي وي.

هغه وایي چې پرانیستې بانکداري د شرکتونو د خزانه دارانو لپاره خورا ډېر ارزښت لري چې دوي ته د "لومړی شمېرې د لومړیتوب" او د نقدینه ګۍ د وضعیت په اړه معلومات وړاندې کوي. "که چیرې یو خزانه دار له څو بانکونو سره معامله وکړي، پرانیستې بانکداري دوی ته اجازه ورکوي چې یو واحد بانک وکاروي څو معلومات راټول کړي او د نقدینه ګۍ (سیالیت) او د پانګونې په نرخ باندې تمرکز وکړي."

ټول بانکونه په زیاته پیمانه د سترو شرکتونو معلوماتو ته لاسرسي لري، خو د هغوی د معلوماتو د کارولو طریقه، سمو مشتریانو ته د کره معلوماتو وړاندې کول به توپیر ولري. لاګرمیټ وایي چې د APIs اداره له مونږ ټولو سره مرسته کوي څو د مراجعینو/ مشتریانو اړتیاوې په چټکۍ سره بشپړې کړو. مونږ کولای شو د APIs په کارونې سره سپارښتې وړاندیزونه وکړو.

**په اروپا کې د ایکو سیستم (Ecosystem) دوره**

خصوصي سهامي شرکتونو په مالي ټکنالوژۍ (fintechs) کې شاوخوا ۵۰ میلیارډ ډالره پانګونه کړې ده چې دې پانګونې د بانکونو په پیاوړتیا او ښه والي کې ډیره مرسته کړې ده. ټراینس وایي "فکر وکړئ چې مالي اداري به د مجبورۍ له وجې دا کار ترسره کړی وي. مونږ په حقیقت کې ډیر خوښ یو؛ ځکه چې اوس مهال مونږ د مالي ټکنالوژۍ (fintechs) په ګډې همکارۍ سره د ستونزو لپاره د حل لارو د پیدا کولو وړتیا او خوښ یو چې له دې شرکتونو سره د کار کولو فرصت لرو."

د مقرراتي بدلون د بشپړولو ځواک، د ټکنالوژۍ پرمختګ او د مشتري د چلند بدلون د اروپا د ادارینو بهیر ته بدلون ورکړی. یوه ډېر پرانیستې، نښلوونکې او ګډه نړۍ د غوړیدا په حال کې ده چې مشتریانو لپاره د هغوی د محصولاتو او خدمتونو د کارونې د څرنګوالي د بیا کتنې په برخه کې د بانکونو د هڅونې لامل کیږي. لاګرمیټ وایي "زه غواړم له هغه چا سره سیالي وکړم چې زه فکر کوم له هره پلوه غښتلی او صحتمند دی."

څرنګه چې د پرانیستې بانکدارۍ له لارې د سترې سیالۍ لید لوری داسې څه نه دي چې هغه یې د ګواښ په توګه مطرح کوي. هغه وایي: "په پای کې باید ووایم چې سیالي د مالي ادارې، صنعت او مشتري د پایښت او پیاوړتیا لپاره یوه ډېر اغیزناکه عمل دی." •

سرچینه: The Banker Magazine MASTERCLASS (April 2019)

# د افغانستان طبي بوټي، د هغو اقتصادي ارزښت او صادرات

**زعفران، انجه (هنګ) او شیرین بویه د افغانستان تر ټولو مشهور طبي بوټي دي**

زعفران د نړۍ له تر ټولو ګران بیه ګل دی چې د روزلو او را ټولولو نږدې ټولې چارې یې په لاس ترسره کېږي.

زعفران خپله نورو خوراکي توکو ته خوند او رنګ ورکوي، وازګې ( د وجود غوړي) له منځه وړي، په وینه کې د کلسترول د زیاتوالي مخه نیسي او زیات شمېر نورې روغتیایي ګټې له ځان سره لري او دا لامل شوی دی چې اقتصادي ارزښت یې د هرې ورځې په تېرېدو سره زیات شي.

زعفران په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په هرات ولایت کې وکرل شول او اوس یې د هېواد په ډېری ولایتونو کې کرکیله کېږي، د هرات زعفران د لوړ کیفیت لرونکي دي او څو ځله یې د خپل لوړ کیفیت له کبله نړیوالې جایزې ګټلې دي.

په تېرو کلونو کې د افغانستان زعفران د ګاونډیو هېوادونو په نومونو بهرنیو هېوادونو ته صادرېدل او د هغو هېوادونو په نومونه په نړیوالو بازارونو کې پلور ته وړاندې کېدل، خو اوس د افغان دولت د هڅو له کبله د افغانستان زعفران د همدغه هېواد په اصلي نوم بهرنیو هېوادونو ته استول کېږي، چې په نړیواله کچه یې د ښه خوند ( ذایقې) له کبله څو ځله لومړی مقام تر لاسه کړی دی.

دا مقام د ذایقې او کیفیت د انستیتیوت له لوري چې مرکز یې په بروکسل کې دی د افغانستان زعفرانو ته ورکول شوی دی.

زعفران د غوره اقتصادي اهمیت لرونکي دي او په هېواد کې د دې بوټي ( ګل) دودول به د بزګرانو له اقتصاد سره مرسته وکړي، دا مهال په نړیوالو بازارونو کې د یو کیلو ګرام زعفرانو بیه له ۱۴ سوه تر ۲ زره امریکایي ډالرو او تر دې هم لوړه ښودل شوې ده.

که څه هم افغان دولت د دې بوټي د کرکیلې د دودولو لپاره له دې وړاندې هم ګامونه پورته کړي دي، خو غوره به وي چې د دې بوټي د لا دودولو لپاره زیات ګامونه پورته شي، په دې سره به نه یوازې دا چې بزګران زیاته ګټه تر لاسه کړي او په هېواد کې به اقتصادي رغښت رامنځته شي،بلکې د هېواد په صادراتو کې زیاتوالي هم رامنځته شي.

د افغانستان زعفران د غوره کیفیت لرونکي دي او دا زعفران په نړیوالو بازارونو کې زیات پېرودونکي لري، په تېر لمریز کال کې ۲۱ ټنه زعفران چې شاوخوا ۲۰ زره کیلو ګرامه کېږي، بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي چې دا کچه د وړم (۱۳۹۶) لمریز کال په پرتله ډېر زیاتوالی په ګوته کوي.

د یادونې وړ ده چې په ۱۳۹۶ لمریز کال کې بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان له لوري ۶ ټنه زعفران چې 5.5 زره کیلو ګرامه کېږي، صادر شوي وو. تمه ده چې په راتلونکو کلونو کې به دا کچه نوره هم لوړه شي او افغانستان ته به نېغ په نېغه د اسعارو د راتګ لپاره لاره هواره کړي.

همدارنګه انجه داسې یو بوټی دی چې د طبي موخو لپاره کارول کېدای شي، او په طبعي ډول د یو شمېر ولایتونو په

»

غرونو او دښتو کې شنه کيږي.

دوه لسيزې وړاندې يې په نامسلکي ډول د راټولولو له امله نسل مخ په ختمېدو شو اود کرنې وزارت نږدې ۱۳ کاله وړاندې د دې بوټي په هر ډول کارونه بنديز ولګاوه، خو اوس يو ځل بيا د تاجکستان هېواد څخه د دې بوټي تخمونه راوړل شوي او په ولايتونو کې يې کرکيله را ژوندۍ شوې ده.

افغانستان چې يو غرنی او د پراخو دښتو لرونکي هېواد دی د انجې د توليد لپاره مناسبه هوا لري، د دې طبي بوټي توليد به و کولای شي د هېواد په اقتصادي رغښت کې د ليدني وړ ونډه واخلي.

د معلوماتو له مخې افغانستان په تېر ۱۳۹۷ لمريز کال کې ۱۵۱۸ ټنه انجه بهرنيو هېوادونو ته صادره کړې ده، چې له دې برخې افغان بزګرانو زياته ګټه تر لاسه کړې ده.

د يادونې وړ ده چې د انجې د صادراتو دا کچه په ۱۳۹۶ لمريز کال کې ۱۲۷۵ ټنه وه، په هېواد کې د دې بوټي دودول به په راتلونکو کلونو کې دا کچه نوره هم لوړه کړي او دا چاره به په مستقيم ډول افغانستان ته د اسعارو د راتګ لپاره لاره هواره کړي.

که څه هم افغان دولت د دې بوټي د دود کولو لپاره له دې وړاندې هم ګامونه پورته کړي، خو په دې برخه کې د لا زياتو اقداماتو رامنځته کېدل به د هېواد په اقتصادي رغښت او په کور د ننه د درملو د توليد په زياتوالي کې ونډه واخلي.

بلخوا شيرين بويه هم يو طبي بوټی دی چې د ډېرو ناروغيو د مخنيوي لپاره کارول کيږي او غوره اقتصادي ارزښت لري، دا بوټی هم په ټوله نړۍ کې ښه بازار لري او په افغانستان کې د دې بوټي د زرغونېدو لپاره ښه چاپېريال برابر دی.

د دې بوټي دودول د افغانستان په کرنيز اقتصاد کې رغنده رول لوبولی شي او همدارنګه په کور دننه د درملو په توليد او بهرنيو هېوادونو ته په صادراتو سره يې افغانستان ته د اسعارو د راتګ زمينه برابريږي.

د معلوماتو پر بنسټ په تېر ۱۳۹۷ لمريز کال کې افغانستان بهرنيو هېوادونو ته ۵۴۱۹ ټنه شيرين بويه صادره کړې ده.

د يادونې وړ ده چې په هېواد کې د غوره اقتصادي ارزښت لرونکو بوټو په دودولو سره د دې هېواد د کرنيزو توکو په صادراتو کې زياتوالی راځي او دا چاره دې ته لاره هواروي چې دې هېواد ته د اسعارو د راتګ لاره پرانيستل شي.

له بهرنيو هېوادونو افغانستان ته د اسعارو راتګ د اقتصادي رغښت لامل کيږي او په کور دننه د دندو د پيدا کېدو او سوداګرۍ د غوړېدو لپاره لاره برابروي.

سرچينې:

۱ - د مرکزي احصايي کلنی راپور

د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۷ لمريز کال

http://cso.gov.af/Content/files/

سالنامه%20احصائيوی/سالنامه%2097/

سالنامه%20احصائيوی%2097.pdf

۲ - بي بي سي

راپور: محمد قاضي زاده

د خپرېدو نېټه: 13 سپتمبر 2016 - 23 وږی 1395

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2016/09/160913_mns_afghanistan_saffron_herat

۳ - تخار کې د انجې کرکيله

راپور: زلمی آشنا

د خپرېدو نېټه: 18 نومبر 2018 - 27 لړم 1397

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-46256087

۴ - شيرين بويه

https://fa.wikipedia.org/wiki/

شيرين%E2%80%8Cبيان

# مبحثی پیرامون فقر و فقرزدایی

اولین چیزی که در مورد فقر مشخص می‌شود، اینست که فقر پدیده ساده ای نیست که بتوانیم با بکارگیری یک دیدگاه آنرا تعریف کنیم، بلکه طبیعت چند بُعدی فقر و فقیر باعث میشود که ارائه تعریف جامع و دقیقی از آن داشته باشیم.

بسیاری از دانشمندان و سیاست گذاران و حتی اقشاری از مردم در مورد فقر بحث های را انجام داده اند. اساس بحث آنها این است که برای برخورد با مسئله فقر باید مشکل بدرستی شناسایی شود و راه های حل برای آن جستجو گردد. شناخت این افراد از مسئله فقر به یک میزان نبوده و متفاوت می‌باشد، بنابراین برخورد آنها نیز در این خصوص یکسان نخواهد بود، زیرا فقر به طور اجتناب ناپذیر یک مفهوم سیاسی بوده و بنابراین ذاتاً بحث برانگیز است. ممکن بسیاری از محققان ایده روشنی در خصوص نحوه برخورد با مسئله فقر داشته باشند و توصیف و تعریف آنها از فقر نیز توجیهی داشته باشد، اما اینکه منظور آنها از فقر چیست بستگی به این دارد که آنها می‌خواهند چه چیزی را در خصوص فقر انجام دهند.

اولین چیزی که در مورد فقر مشخص می‌شود، اینست که فقر پدیده ساده ای نیست که بتوانیم با بکارگیری یک دیدگاه آنرا تعریف کنیم، بلکه طبیعت چند بُعدی فقر و فقیر باعث میشود که ارائه تعریف جامع و دقیقی از آن داشته باشیم.



بخاطر اینکه مسئله فقر را بصورت درست درک نمائیم، در اینجا به تعاریفی از فقر اشاره میکنیم. تعریف فقر بر اساس مکان و زمان با هم متفاوت بوده و در این مورد بین محققان اختلاف نظر وجود دارد.

تانسند در مطالعات خود در خصوص فقر در دهه های ۱۹۶۰ و ۱۹۷۰ تعریفی را از فقر ارائه داده که بر اساس یافته هایش بسیار مهم بوده و بطور گسترده از آن استفاده بعمل آمده است. او می گوید، افراد، خانواده ها و گروه ها را وقتی می‌توان فقیر خطاب کرد که با فقدان منابع برای کسب انواع رژیم های غذایی، مشارکت در فعالیت‌های روزمره و شرایط و امکانات معمول زندگی مواجه باشند.

آمارتیاسن در مطالعات خود در سال ۱۹۸۱ اشاره کرده و می گوید که کلیه تعاریف صورت گرفته در خصوص فقر به نحوی به محرومیت اشاره می کنند. البته محرومیت خود یک مفهوم نسبی است که ممکن در مکانها و زمانهای متفاوت کاملاً با هم فرق داشته باشند.

بدین معنی که در یک کشور در حال توسعه، ممکن فقر به معنی محرومیت از امکانات محسوب گردد که برای ادامه

»

حیات ضروری است، مانند غذا، مسکن، دوا و ...، در حالیکه در یک کشور توسعه یافته بر محرومیت نسبی از شرایط و امکانات یک زندگی متوسط دلالت دارد.
در یک بررسی مفهوم فقر به دو نوع یعنی فقر مطلق و فقر نسبی تقسیم گردیده است که در ذیل به بیان آنها می پردازیم:
فقر مطلق یک موضوع عینی بوده و متضمن تعریف علمی میباشد که بر پایه حداقل معاش شکل گرفته است و منظور از حداقل معاش، حداقل نیازهایی می باشد که برای حفظ زندگی لازم است. اگر سطح زندگی فردی کمتر از این حداقل باشد، توان لازم را برای ادامه زندگی نخواهد داشت.
براساس این تعریف این تناقض پیش می‌آید که چگونه افراد بدون داشتن حداقل نیازهای اولیه قادر به زندگی خواهند بود؟ جواب این سوال به این مفهوم است که آنها برای مدت طولانی زنده نخواهند بود و اگر برای آنها حداقل معاش فراهم نشود، از گرسنگی خواهند مرد.
بنابر این تعریف، فقر مطلق بستگی به چگونگی تعریف حداقل معاش دارد. برای این کار لازم است که بدانیم مردم به چه چیز نیاز دارند و با دسترسی به چه میزان از کالاها و خدمات مشکل فقر آنها برطرف خواهد شد.
در مقابل فقر مطلق؛ فقر نسبی قرار دارد. فقر نسبی به عنوان ناتوانی در کسب یک سطح معین از استندردهای زندگی که در جامعه فعلی لازم یا مطلوب تشخیص داده می شود، تعریف شده است. در فقر نسبی که ناشی از اختلاف درآمدی است، فقر صرفاً ناشی از فقدان منابع جهت تأمین نیازهای اساسی نیست، بلکه ناشی از کمبود منابع فرد جهت دسترسی به حداقل استندرد های زندگی آن جامعه می باشد.
بنابراین در تعریف فقر نسبی به نابرابری در توزیع درآمد و ثروت بیش از میزان مطلق درآمد افراد توجه می شود. به منظور دستیابی به عمق نابرابری در توزیع درآمد بین افراد یا خانواده ها می‌توان درصد کُل درآمد دریافت شده توسط فقیرترین قشر جامعه را با درصد درآمد دریافت شده توسط ثروتمندترین قشر جامعه مقایسه کرد. البته باید توجه داشت که این مفهوم در کشورهای مختلف به صورت های مختلف تعریف می‌شود و با گذشت زمان بر اثر تحولات اقتصادی نیز تغییر یافته است.
همچنان قانون بین المللی حقوق بشر، فقر را به وضعیتی تشبیه می کند که در آن به محرومیت مزمن از منابع، توانمندی ها، انتخاب گزینه ها، امنیت و قدرت که یک فرد برای مستفید شدن از معیار های کافی فرهنگی، اقتصادی، حقوق مدنی، سیاسی و اجتماعی به آن نیاز دارد، تعریف می نماید.
فقر در کشور ما یک امر فراگیر بوده، رابطهٔ بسیار نزدیک با نا برابری های موجود در جامعه دارد و شاخه های متعدد آن میلیون ها انسان را تهدید می کند. فقر در جامعهٔ ما مانند فقر در سایر نقاط جهان ابعاد مختلف داشته و به پروسهٔ های مختلفی ارتباط می گیرد و غیر قابل جلو گیری نمی باشد.
پروگرام های فقر زدایی باید جهت مساعدت با افراد محروم تر جامعه و افرادی که کمتر توان زندگی با کیفیت مانند دسترسی به غذا، صحت، عدالت سرپناه، معارف و ... را ندارند باید تطبیق و مورد بر رسی قرار گیرد.
فقر زدایی همیشه در کشور ما وابسته به کوشش های متعدد می باشد، در این پروسه باید ساختار های سوء استفاده از قدرت منحل ساخته شده و قشر فقیر جامعه باید قادر شود تا بتواند به سهولت به منابع مورد ضرورت شان دسترسی حاصل نمایند.

»

بر دولت و آگاهان امور لازم است که به دور از بلند پروازی ها و با توجه به واقعیت های کشور راهکارهای بلند مدت که ترسیم کلان امور اقتصادی کشور باشد را طرح ریزی نمایند و این راهکارها باید بتواند به عنوان چشم انداز آینده کشور به حساب آید و در برنامه های چند ساله و بودجه سالانه کشور به صورت تدریجی قابل تطبیق باشد.

**راهکارهای کوتاه مدت و میان مدت برای فقرزدایی:**

با توجه به مقوله تجارت جهانی و اظهارات صاحبان تخصص، راه اندازی پروژه های زراعتی در کشور باید راهبرد اولیه کشور باشد. جلگه ها و دشت های مناطق کشور که نمونه های مناسب برای زراعت اند، حل اقل با این رویکرد کشور ما میتواند در زمینه زراعتی خودکفا شود.

رفع بیکاری و اشتغالزایی از طریق افزایش سرمایه گذاری در فعالیت های تولیدی و سیاست های کارآمد در بخش های آموزش، قوانین بازارکار، و تأمین اجتماعی و همچنان توجه به اصلاحات بنیادی در مناطق روستایی در بخش های زراعت و اشتغال به منظور کاهش مهاجرت، سوق دادن خانواده های فقیر به سوی زراعت و مالداری و توجه به توسعه و گسترش برق، جاده، آب، مواد سوخت، و بهره برداری بهینه از منابع موجود در کشور از ضرورت های عمده محسوب می گردد.

باید گفت که داشتن روابط اقتصادی با تمام کشورهای جهان بدون در نظر داشت مسایل سیاسی باید یکی از نخستین برنامه های روی کار باشد. در حال حاضر کشورهای زیادی را میتوان نامبرد که علاوه بر داشتن روابط تیره سیاسی، مناسبات اقتصادی خویش را حفظ نموده و حتی گسترش داده است. همچنان داشتن برنامه های منظم ارتباط تجارتی با جهان خارج و پیاده نمودن مرحله وار استفاده از آن در اقتصاد کشور در اولویت قرار گرفته و از فعالیت های کم اثر اقتصادی جلوگیری بعمل می آید.

از مطالعه ی آنچه گذشت به این نتیجه می رسیم که افغانستان بالقوه دارای قدرت اقتصادی بسیار زیادی است. از انرژی نفت و گاز گرفته تا معادنی چون طلا، لعل، لاجورد، زغال سنگ، آهن و ... که از توانمندی های پنهان کشور به شمار میروند و از همهٔ آنها میتوان در زدودن و ریشه کن کردن فقر استفاده نمود.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


۱- https://mawdoo3.com/ -

*ماهوالفقر*

19كانون الأول (ديسمبر) ۲۰۱۷...تعريف الفقر . الفقرالمطلق والفقرالنسبيّ . آثارالفقر . المراجع تعريف الفقر الفقرهو الحالة أو الوضع الذي يحتاج فيهالفرد أو المجتمع إلى الموارد...

۲- Poverty in Afghanistan | Asian Development Bank

*https://www.adb.org/countries/ afghanistan/poverty -*

Get the latest statistical data on poverty and socioeconomic development in Afghanistan and compare poverty indicators among countries in Central and West ...

۳- فقر - ویکی‌پدیا، دانشنامهٔ آزاد

https://fa.wikipedia.org/wiki/فقر

# د ملي پولي واحد د کارولو ګټې

پولي واحد د یو هېواد د هویت نمایندګي کوي، د پولي واحد کارېدنه سیاسي او اقتصادي ګټې لري چې د هر هېواد لپاره خورا مهمې دي.

په نړۍ کې ټول هېوادونه هڅه کوي څو خپل ملي پیسې باثباته وساتي او د همدې موخې لپاره له بېلابېلو پولي سیاستونو څخه کار اخلي. دا چې د ملي پیسې کارېدنه د یو هېواد لپاره کومې اقتصادي ګټې لري په لاندې ټکو کې خلاصه کېږي:

د پیسو اقتصادي جریان: کله چې د یو هېواد ملي پیسې د ټولو وګړو له لوري په یو وخت کارول کېږي، نو د پیسو چټک اقتصادي جریان رامنځته کېږي، چې دا جریان د پیسو د اقتصادي فعالیتونو د چټکتیا لامل ګرځي.

د پیسو په جریان کې اچول دومره مهم دي، لکه څنګه چې په بدن کې د وینې جریان مهم دی، که چېرته وینه په بدن کې جریان ونلري او د زړه له لوري پمپ نشي نو وینه بې فایدې ده. همدا شان که چېرته پیسې په خزانو کې پرتې وي او جریان کې وانه چول شي، معنی نلري. پیسې، د غوښتنې په کتلو سره جریان کې اچول کېږي او د هغو ارزښت ته په کتلو سره یې په کچه کې تر هر اړخیزو کتنو وروسته زیاتوالی او یا هم کموالی راځي. دا بیا د یو مرکزي بانک په پرېکړه پورې اړه لري چې څومره پیسې د پلان اړوند باید په جریان کې واچول شي او څومره راوویستل شي.

لنډه دا چې، د پیسو جریان د اقتصادي پرمختګ او ثبات په برخه کې د ډېر ارزښت لرونکی دی. د یوې پیسې کورنی او بهرنی ارزښت هغه وخت باثباته ساتل کېدای شي، چې د هېواد وګړي پرې په کاروباري او سوداګریزو معاملاتو کې راکړه ورکړه وکړي او پیسه په جریان کې راولي، جریان کې د پیسو ساتل په اصل کې د پیسو هغه صفت ثابتوي چې پیسه د ټولو لپاره چې



تاج محمد تمکین
د افغانستان بانک د ختیځ زون اقتصادپوه

د ملي سرحداتو دننه ژوند کوي، یوه پیسه ده.

همدا شان د پیسو بهرنی ارزښت هغه وخت باثباته ساتل کېدای شي چې د کورني ارزښت د ثبات له اړخه پیسه ځواکمنه وي، نو هلته بیا د بهرنیو اسعارو د تبادلې په بازار کې هم د پیسو ارزښت پیاوړی پاتې کېږي.

د بهرنیو پولي واحدونو د کارېدنې مخنیوی: کله چې د یو هېواد پولي واحد باثباته او د وګړو لخوا په چټکتیا سره

»

کارول کېږي، نو د نورو هېوادونو پولي واحدونه د اقتصادي جريان څخه وځي چې دا د يو هېواد د پولي ثبات لپاره ډېره اړينه خبره ده. څومره چې زموږ خپل پولي واحد جريان ته دننه کېږي په هماغه کچه بهرني اسعار د جريان څخه وځي.

د پيسو چلښت د پيسو سياليت ښيي: د پيسو چلښت په هېواد کې دا معنی لري چې پيسې سياليت لري په دې معنی چې په هېواد کې خپلو پيسو ته وګړي هر وخت لاسرسی پيدا کولای شي، دا د يو ښه پولي واحد صفت دی چې په جريان کې د موجوديت له برکته يې د هېواد ټول وګړي ورته لاسرسی پيدا کولای شي، خو که چېرته جريان کې نه وي نو د پيسو دا صفت بيا د ملاحظې وړ ګڼل کېږي.

**د ملي پولي واحد د نه کارولو زيانونه**

ملي پولي واحد د يو هېواد ملي هويت دی. پدې معنی که چېرته په يوه سيمه کې ملي پولي واحد نه چلېږي، نو معلومېږي چې دغه سيمه له معنوي اړخه زموږ د ملي هويت د تثبيت لپاره ستونزې جوړوي.

همدا رنګه ملي پولي واحد چې کوم ځای کې نه کارول کېږي، نو په هغه ځای باندې د پولي سياست د وسايلو اغېز هم نه وي، ځکه د پولي سياست اغېز په هغه ځای وي چېرته چې ملي پولي واحد کارول کېږي.

لکه څنګه چې پوهېږو د ملي پولي واحد د چاپ، ضرب او خپراوي مسئوليت د مرکزي بانک دی او همدا ډول د پولي سياست د جوړولو مسئوليت هم د مرکزي بانک پورې تړاو لري، نو ويلای شو چې پولي سياست هغه وخت ښه پايله ورکولای شي چې د يو هېواد خلک يې په راکړه ورکړه کې خپلې ملي پيسې وکاروي.

د ملي پولي واحد د نه دود کېدو بل زيان دا دی چې د حکومت حاکميت تر پوښتنې لاندې راولي، ځکه د حکومت د حاکميت سيمه کې بايد د هماغه حکومت پولي واحد چلښت ولري. دا د حکومت لپاره هم د پوښتنې وړ خبره ده چې تر خپل واک لاندې سيمه کې يې د بل هېواد کرنسي يا پولي واحد چلېږي.

د ملي پولي واحد کارول د يو ملي احساس له مخې کېږي چې د هېواد د اقتصاد د پياوړتيا لپاره ډېر اړين دی. د هر سيستم لپاره اړينه ده چې د ملي ارزښتونو د درناوي لپاره په خلکو کې عامه پوهاوی رامنځته شي، ملي پولي واحد هم چې د ملي ارزښتونو له ډلې دی نو په کار ده چې خلک دې ارزښت ته په کتلو سره په خپلو راکړو ورکړو کې ترې ګټه پورته کړي. که څه هم په دې برخه کې د عامه پوهاوي رامنځته کول وخت غواړي، خو اغېزې يې تلپاتې او د هېواد د ملي واحد په ګټه دي.

د يادونې وړ ده، څومره چې د هېواد د خلکو په ملي پولي واحد باور زياتېږي په همغه کچه د هغه پولي واحد ارزښت باثباته کېږي او اهميت مومي. •

سرچينې:


1. http://www.sanandres.esc.edu.ar/secondary/economics%20packs/international_economics/page_61.htm
2. https://www.ecb.europa.eu/press/key/date/2000/html/sp001007.en.html
3. https://leightremaine.com/reasons-to-use-a-complementary-currency/
4. https://eabr.org/en/press/comments/dollarization-causes-and-solutions/

# د لمريزې او بادي انرژۍ توليد مو د برېښنا په برخه کې په ځان بسيا کوي

په افغانستان کې د لمر او بادي انرژيو په برخه کې پانګه اچونه به افغانستان د برېښنا په برخه کې په ځان بسيا او دا چاره به په هېواد کې د صنعت د غوړېدو او کورني توليد د زياتوالي لامل شي.

لمريزې او بادي برېښناوې چې د نوې کېدونکو انرژيو له ډلې دي،دا مهال يې په نړيواله کچه ښه شهرت موندلی او د نړۍ په پرمختګ کې يې يو نوی انقلاب رامنځته کړی دی.

د يادو انرژيو ډولونه د نوي کېدو وړ انرژۍ له ډلې شمېرل کېږي او په پاکې انرژۍ سره هم شهرت لري، دا انرژي له طبعي سرچينو لکه لمر، اوبو، باد او نورو... څخه لاسته راځي.

د انرژۍ دا طبيعي سرچينې له ډېرې پخوا زمانې را په دېخوا د خلکو په خدمت کې دي او انسانان يې له اوږدې مودې راهيسې د ګرمولو، لېږد را لېږد، روښنايي او داسې نورو موخو لپاره کاروي.

په نوي کېدو وړ انرژۍ پانګه اچونه دا هېواد د انرژۍ يا برېښنا په برخه کې په ځان بسيا کوي او نورو هېوادونو ته هم د برېښنا د صادراتو وړتيا ورکوي چې دا چاره ورو ورو افغانستان ته د اسعارو د راتګ لپاره لاره برابرولای شي.

**د لمريزې انرژۍ اقتصادي ارزښت**

لمر د طبيعي انرژۍ د توليد له لويو او پاکو سرچينو شمېرل کېږي. انسانان چې له زرګونو کلونو را په دېخوا له دې انرژۍ څخه د بېلابېلو موخو لپاره ګټه پورته کوي، له اقتصادي اړخه غوره انرژي ده او دا وړتيا لري چې د مصرف په نکته کې يې سرچينې رامنځته شي.

د دې وړتيا ياد مثبت ټکي ته په کتلو سره ويلای شو چې دا انرژي له اقتصادي اړخه ګټوره ده او دېته اړتيا نه لري چې له لرې واټنونو د لګښت تر ځايونو ولېږدول شي، بلکې دا انرژي خپله د لګښت په ځايونو (کارخونو، د اوسېدو ځايونو، سوداګريز مرکزونو او ... ) کې رامنځته کېدای شي او د ګټې وړ ګرځي.

د معلوماتو پر بنسټ افغانستان په کلني ډول ۳ سوه لمريني ورځې لري چې دا وړتيا افغانستان د لمريزې برېښنا په مرکز بدلولای شي.

که څه هم په دې وروستيو کلونو کې په افغانستان کې د دې برېښنا د توليد لپاره يو شمېر ګامونه پورته شوي، خو دا برخه لا زياتو هڅو ته اړتيا لري او تمه ده چې افغان دولت او خصوصي سکټور به په دې برخه کې په ګډه همکارۍ لا زيات ګامونه پورته کړي.

د يادونې وړ ده چې په دې وروستيو کې د کندهار په ولايت کې د لمريزې برېښنا دوې لويې پروژې پرانيستل شوې.دا دوې پروژې د ۳۰ ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد ظرفيت لري، چې د کندهار ولايت د برېښنا شبکې سره د دې پروژو په نښلېدو سره به د ورځې له مخې د دې ولايت زيات شمېر صنعتي کارخونو، سوداګريزو مرکزونو او د اوسېدو ځايونو ته برېښنا ورسېږي.

په ياد ولايت کې له دې برېښنا څخه په ګټه اخيستلو سره به هلته سوداګرې وده وکړي او کاري زمينې به ورسره زياتې شي.

بل لورته په هرات ولايت کې هم د لمريزې برېښنا د توليد دوې پروژې تر کار لاندې ديچې په بشپړېدو به يې ۵۰ مېګاواټه برېښنا ترلاسه شي.

د دې پروژو په بشپړېدو سره به ياد ولايت ته د ايران هېواد څخه د راغلې وارداتي برېښنا په کچه کې کمښت راشي او دا چاره به له افغانستان څخه ايران هېواد ته د وارداتي برېښنا له کبله د تلونکو اسعارو له تګ څخه په مخنيوي کې مرسته وکړي.

که څه هم افغان دولت ژمنه کړې چې تر راتلونکو څو کلونو به د اوبو، لمر او بادي انرژيو په برخه کې پانګه اچونه کوي او دا هېواد د برېښنا د توليد له کبله په ځان بسيا کوي، خو لا هم په هېواد کې په دې برخه کې د پانګې اچونې په وړاندې د امنيت نه شتون لويه ستونزه

»

شمېرل کېږي.

تمه ده چې په هېواد کې د امنيتي وضعيت په ښه کېدو سره به په دې برخه کې شته ستونزې حل شي او د برېښنا د بېخبنسټونو په رامنځته کېدو کې به د پانګې اچونې لپاره لارې چارې برابرې شي او دولت به له خصوصي سکټور سره په ګډه همکارۍ په دې برخه کې پانګې اچونې وکړي.

د يادونې وړ ده چې برېښنا نېغ په نېغه په صنعت، سوداګرۍ او د خلکو په ژوند اغېز لري او د اقتصادي وضعيت په غوړېدو کې مرسته کوي. تمه ده چې په هېواد کې د لمريزې برېښنا په دود سره به افغانستان ته د وارداتي برېښنا د راتګ مخنيوی وشي او دا هېواد به د برېښنا په برخه کې په ځان بسيا او په دې پار بهرنيو هېوادونو ته تلونکو اسعارو له تګ به مخنيوی وشي.

**د بادي انرژي او د هغې اقتصادي ارزښت**

بادي انرژي د نړۍ له ارزان بيه انرژيو څخه شمېرل کېږي چې دا مهال د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې ترې ګټه اخيستل کېږي.د معلوماتو له مخې يوازې په چين کې له دې لارې تر سل زره ميګاواټه زياته انرژي توليدېږي چې د دې هېواد د برېښنا لويه برخه يې جوړه کړې ده.

دا انرژي هم لمريزې انرژۍ ته ورته ځانګړتيا لري او کولای شي چې د مصرف ځايونو ته په نږدې واټن کې توليد شي، د انرژۍ د لګښت ځايونو ته نږدې د انرژۍ توليد له اقتصادي اړخه ګټور تماميږي او د زياتو پايو لګولو او د برېښنا مزي غځولو ته په کې اړتيا نه ليدل کېږي.

افغانستان د دې ډول برېښنا د توليد لپاره مناسبه هوا لري، که په دې برخه کې پانګه اچونه وشي دا هېواد به د بادي انرژۍ د توليد په لوی مرکز بدل کړي.

د څېړنو له مخې د افغانستان په ډېرۍ سيمو او دښتو کې د باد چټکتيا له ۶ متر په ثانيه بيا تر ۲۸ متر په ثانيې ( 6m/sec – 28m/sec ) ته رسيږي چې کولای شي د سل کيلو واټه انرژۍ د توليد دستګاه وڅرخوي.

په هېواد کې د باد دې ګړنديتوب ( سرعت) ته په کتلو سره ويلای شو چې افغانستان د بادي انرژۍ د توليد لپاره ښې سرچينې لري او په دې برخه کې پانګه اچونه به مو د برېښنا له وارداتو او په نورو هېوادونو پورې له تړلتيا خلاص کړي.

د معلوماتو له مخې افغانستان د برېښنا په برخه کې د په ځان بسيايني لپاره شپږ (۶) ميليارد ډالره پانګې اچونې ته اړتيا لري، تمه ده چې افغان دولت به له خصوصي سکټور سره په ګډه همکارۍ په دې برخه کې پانګه اچونه وکړي او افغانستان به د برېښنا په برخه کې په نورو هېوادونو پورې له تړلتيا خلاص کړي، معلومات ښيي چې افغانستان په کلني ډول د برېښنا د اخيستلو له کبله ۳۲۰ ميليونه ډالر لګښت کوي. تمه ده چې په هېواد کې د برېښنا د توليدي کارخونو په جوړېدو سره به دا هېواد د برېښنا په برخه کې د نورو هېوادونو له تړلتيا خلاص شي.•

سرچينې:

۱ – د بادي انرژۍ نړيواله شورا
Global Wind Energy Council (GWEC)/GLOBAL STATISTICS
https://gwec.net/global-figures/graphs/

۲ – نوې کيدونکې انرژي د اقتصادي پراختيا لار/ بريالی ناياب
http://www.taand.com/archives/88104

۳ –نړيواله انرژي/ GE Renewable Energy
https://www.ge.com/renewableenergy/wind-energy/technology/what-is-wind-energy

۴ – د افغانستان د انرژۍ معلوماتي مرکز
http://aeic.af/pa/ppi

۵ – د نوي کېدو وړ انرژي/ محمد فريد عاطف/ مې 13، 2019
http://www.enikassradio.com/نوي-کېدو-وړ-انرژي-renewable-energy/

# بهبود اقتصاد کشور، مستلزم تلاش های پیگیر

تجربه نشان داده است که در سیستم باز سازی و اقتصادی یک اشتباه کوچک می تواند زیانبار باشد و عواقب ناگوار بشری و اقتصادی را ببار بیاورد. بناءً لازم است تا مردم در روند احیا و باز سازی کشور دخیل باشند و از منافع نهفته‌ای که در برنامه های بازسازی وجود دارد، آگاه شده و در راستای نگهداری و مراقبت آنها کوشش نمایند.

از اینرو شهروندان کشور باید همیشه در تمام روندهای باز سازی و انکشافی هم به حیث مجریان و هم بحیث مستفید شوندگان نقش فعالی را ایفاء نمایند، زیرا مشارکت مردم در طرح ریزی پروژه‌ها ممد واقع شده و در آینده از وقوع اشتباهات جبران ناپذیر جلوگیری بعمل می‌آید.

در این میان، در دراز مدت، تفاوت بازسازی و پروژه های اقتصادی میان شهرها و روستاها از بین رفته و مشکلات اقتصادی که ریشه در مناسبات توزیع نا عادلانهٔ برنامه‌های اقتصادی و بازسازی دارد، از میان برداشته می‌شود. اگر عدالت در سیستم بازسازی میان شهرها و روستا ها تأمین نگردد، اقتصاد کشور رشد نخواهدکرد.

در برنامه های انکشافی باید به فقیر ترین و منزوی ترین اعضای جامعه از طریق فراهم سازی زمینه کار اقدام بعمل آید و از مساعدت های تسکینی و موقتی دوری شود و در مقابل در بخش های مختلف انکشاف پایدار کار صورت گرفته و در زدودن فقر به خصوص در ساحات روستایی اقدام عملی صورت گیرد.

به هر انداره که برنامه های دراز مدت در چهار چوب زمانی دقیق با شفافیت کامل و حسابدهی تقویه گردد و استراتیژی ها به منظور بسیج ظرفیت‌های ملی طرح، پالیسی ها و برنامه ها در مشارکت با جامعه کمک دهنده، همنوا گردد، به همان اندازه از امداد شدیداً متکی بر کمک های تسکینی، که می تواند اتکا به منابع خارجی را به درازا بکشاند، نجات می یابیم.

تعدادی از کمک کننده‌گان برای توجیه و طویل المدت ساختن ماموریت شان، ادارات مماثل کشور را به چالش کشانیده و حتی در ناکام ساختن آنها اقدام می نمایند. مسئولین تعدادی از انجیوها در ملاقات های داخلی و خارجی شان کار آرایی و نبود ظرفیت را به رخ دولت کشانیده و ادارات دولتی را تخریب و سبو تاژ می نمایند تا به عمر خود بیافزایند.

برای بیرون شدن از مشکلات اقتصادی لازم است تا مردم و مقامات مربوط ریاضت اقتصادی را تا یک حدی متحمل شوند. هر دو باید دست به دست هم داده با پلان ها و برنامه های مالی سنجش شده و معقول اقتصاد کشور را از مشکلات رهایی بخشند.

با توجه به مستهلک بودن کشور، وابستگی به واردات امتعه، رشد سطح بیکاری و رشد نفوس کشور باید فابریکات برای جلب و استخدام نیروی کار روی کار آید، فارغان مکاتب و پوهنتون ها جذب و استخدام شوند تا از هم پاشیدگی نظام اجتماعی و اقتصادی جلوگیری بعمل آید.

هرگاه حاصلات کشت و زراعت دهاقین مصارف سالانهٔ شان را تکافو نماید، زمینه کار یابی برای عودت کنندگان به وجود آید، تناسب منطقی میان مخارج و عواید بمیان آید، مامورین پائین رتبه از حالت خانه بدوشی و ده ها مشکل اقتصادی دیگر رهایی یابند و معاش شان تکافوی زندگی یک فرد خانوادهٔ شان را پوره کند، آنگاه وضعیت اقتصادی مردم در حالت مطلوب قرار خواهد داشت.

طی چندین سال گذشته شاهد آن بوده ایم که افغانستان به یک کشور توریدی و مصرف کنندهٔ تبدیل شده و تناسب میان واردات و صادرات کشور از بین رفته و تمام مواد اولیه و غیر اولیهٔ استهلاک کنندگان از خارج وارد می شود. بناءً لازم است که در حال حاضر نسل جدیدی که پا به عرصهٔ وجود نهاده اند و از مصائب اقتصادی کشور به کُلی آگاه اند، در سایر عرصه ها تلاش نمایند تا در جهت رشد و ترقی متوازن کشور کاری را انجام دهند.


منابع:

-1 https://www.economicshelp.org

How to increase economic growth | Economics Help

/.../economics/how-to-increase-economic-growth/

2- النمو الاقتصادی

https://www.aljazeera.net/.../economy/2008/4/6/النمو-الاقتصادی

(إبریل) ۲۰۰۸ ...النمو الاقتصادی أحد أهم المؤشرات الاقتصادیهٔ، ویُعرف بأنه مجموع القیم المضافهٔ إلی کافهٔ وحدات الإنتاج العاملهٔ فی فروع الإنتاج المختلفهٔ فی اقتصاد...

3-https://www.chetor.com/40987 رشد-اقتصادی-چیست/

رشد اقتصادی چیست و چه عواملی بر آن موثر است؟ چطور

# مدیریت صنعت و تجارت و مرحلۀ بازاریابی

در دنیای امروز مدیران صنایع باید قادر به یکپارچه گی شرکت خود بوده و بتوانند از ایده ها و ابزار جدید در راستای تعالی و بهبود شرکت های شان بهره گیرند.

رشته مدیریت صنعتی، به مجموعه‌ای جامع از دانش روز مرتبط با تکنالوژی، تولید و عملیات، شیوه های بهبود، تخنیک های بهینه سازی، مدیریت کیفیت و تعالی، روش های تصمیم گیری و ... برای حل و تحلیل مسائل مدیریتی و شرکت اطلاق می‌شود که در صنعت‌های مختلف از جمله تولیدی و خدماتی قابل استفاده است.

رشته مدیریت صنعتی یکی از رشته های مدیریتی است که قدامت آن به چندین دهه می‌رسد و تاکنون فارغ‌التحصیلان بسیاری از این رشته وارد بازار کار شده اند. این دانش آموختگان در بخش های مختلف و زمینه‌های متعددی اعم از نهاد های صنعتی و یا خدماتی به کار و فعالیت مصروف اند و می توانند از توانایی ها و آموخته های خود استفاده ممد و لازم نمایند.

مدیریت صنعتی که سرآغاز آن کشور فرانسه است، از پوهنتون ( ESCP Europe)آغاز شد و به بحث در مورد چگونگی کنترول فایده، سرمایه، هزینه و استفاده بهینه از امکانات موجود می پرداخت. هدف از این رشته، آشنایی دقیق با وظایف اساسی نهادهای صنعتی، افزایش مهارت و توانایی دانشجویان در شناخت مسائل مبتنی بر مدیریت، جمع آوری و تجزیه و تحلیل اطلاعات مرتبط به هر یک از این مسائل، ارزیابی راه حل های مختلف در مورد هر مسئله، تصمیم‌گیری و اجرای تصامیم می‌باشد.

فارغان این رشته با آگاهی و شناختی که از ساختار سازمان، تئوری های مدیریت و سازماندهی و تخنیک های مختلف دارند، راه حل مشکلات را پیدا نموده و همچنین علاوه بر دانش نظری با کاربردهای این رشته نیز آشنا می شوند. فارغ التحصیلان مدیریت تجارتی می توانند در مؤسسات تجاری، امور دفتری مانند تدارکات، اداره امور، امور مالی و بازاریابی مشغول کار شوند.

این رشته دارای گرایش های مختلفی می باشد که بازاریابی، سیاستگذاری (استراتیژیک)، بازاریابی بین المللی، تحول سازمان، بخش مالی، بیمه، تجارت بین‌المللی و ... شامل آن می شود.

فارغان این رشته با تسلط به مباحث مربوط به بازار، مباحث تدوین استراتیژی های سازمانی، شناخت مشتریان و نحوه ارتباط با آنها، شناخت مراحل فروش، بازاریابی و خدمات به مشتریان زمینه لازم جهت استخدام در واحدهای تجارتی سازمان‌ها را داشته و نسبت به سایر گرایش‌های مدیریت با توجه به نبود رشته جایگزین از بازار کار مناسبی برخوردارند. در ضمن، دانشجویان این رشته با توجه به شناخت کافی از کسب و کار و نحوه ایجاد تجارت موفق شانس زیادی برای موفقیت در حیطه کار آفرینی و استارت آپ‌ها و تشکیل کسب و کار جدید دارند.

مشاوره در امور تجاری و بازاریابی و

بازارسازی در امور تجارتی سازمان ها نیز جزء حیطه کاری این فارغ التحصیلان می باشد. همچنین دانشجویان این رشته با توجه به دروسی که طی دوره لیسانس و بالاتر از آن می‌گذرانند، بعضاً دروس آنها با رشته حسابداری مشترک بوده که می‌توانند با گذراندن برخی دوره های کاربردی در سازمان ها با عناوین مالی و حسابداری مشغول به کار شوند.

فارغین این رشته به خوبی می توانند در سطح مدیران اجرایی در نهاد های تجارتی، صنعتی و دولتی به کار اشتغال ورزند یا در سمت مشاور مدیریت انجام وظیفه نمایند. انتظار می رود فارغین این رشته، پس از کسب تجربیات کافی بتوانند مسئولیت‌های بیشتری را در سطوح بالای نهادهای تجارتی عهده‌دار شوند.

علاوه بر این، فارغین این دوره می‌توانند در کارهای پژوهشی و تحقیقاتی که امروز در مؤسسات بزرگ از اهمیت زیادی برخوردار است، مشغول بکار شوند.

رشته مدیریت استرا تیژیک نخستین بار به عنوان مدیریت سیاستگذاری تجارتی ایجاد شد. این رشته که یکی از گرایش‌های اصلی رشته مدیریت تجارت در مقطع تخصصی دوکتورا، در خصوص برنامه‌ریزی و اجرای استراتیژی های مراکز اقتصادی است. تاریخچه به وجود آمدن رشته ای تحت عنوان مدیریت استراتیژیک ( Strategic Management) در جهان چندان طولانی نیست و به نیمه دوم قرن بیستم می‌رسد.

در این مورد طراحان دوره های پوهنتون مدیریت در امریکا تصمیم می گیرند تا درس جدیدی برای دانشجویان دوره کار شناسی مدیریت تجارت طراحی نموده و به مدیران آینده در زمینه تصمیم گیری‌های کلان و مدیریتی یاری رساند. به این ترتیب درس سیاستگذاری تجارتی ( Business Policy/Strategy) در برنامه دیپارتمنت های تجارتی جای گرفت و به مرور زمان به رشته‌ای مستقل در سطح کار شناسی ارشد و دوکتورای عمومی و تخصصی مدیریت و تجارت تبدیل شد.

همان طوری که اشاره شد عنوانی که در ابتدا برای این زمینه دانشی در نظر گرفته شده بود، سیاستگذاری تجارتی، سیاست کسب وکار بود و به مرور زمان به عناوین دیگری مانند «استراتیژی تجارتی/کسب وکار»، «استراتیژی و سیاست کسب وکار» و ... تغییر نمود.

فاصله ایده تا مرفوع شدن نیازها با استفاده از موضوع تبدیل ایده به کالا و مبادله آنرا بازاریابی نام‌گذاری کرده‌اند. البته تعاریف گوناگون از بازاریابی در مراجع مختلف بدست آمده است، ولی نکته محوری در تمام این تعاریف محور قرار دادن کالا سرمایه گذاری شده در بازار می باشد. علم بازاریابی به لحاظ همبستگی بسیار زیاد با مدیریت استراتیژیک در بسیاری از موارد به صورت ترکیبی به اجراء درآمده و شرکت‌ها استراتیژی‌های خود را با استفاده از علوم و زیرشاخه های بازاریابی تکمیل می‌نمایند. از دانشمندان این زمینه می‌توان به ایگور انسف اشاره نمود که خود یکی از پایه گذاران این علم نوین تجارت و بازاریابی در دنیا بشمار میرود.

برخی از زیرشاخه‌های بازاریابی عبارت از E-commerce, E-marketing، بازاریابی بین المللی، رفتار مصرف کننده، بازاریابی داخلی، بازاریابی صنعتی و بازاریابی افقی و عمودی میباشند. هر یک از زیر شاخه های فوق ضمن تبعیت از اصول بازاریابی این امکان را فراهم آورده‌است تا متخصصین و علاقه‌مندان در زمینه‌ای خاص بررسی‌های لازم را به عمل آورند.

منابع:


المدیرالعام - مدن

1) https://www.modon.gov.sa/ar/aboutmodon/Pages/bio.asp

9كانون الثاني (يناير) 2019 **...**يشغلالمهندس خالد بن محمد السالم منصب**المدير**العام للهيئة السعودية للمدن ... وهو وكيل وزارة الطاقة والصناعة والثروة المعدنية لشؤون**الصناعة**) المكلف.(

katargamdimond**indestriz** - Surat, Gujarat - College & University ... (2)

*https://www.facebook.com/pages/katargam...**indestriz**/594237854094720*

Phone, Suggest a phone number ... katargamdimond**indestriz**, Surat, Gujarat. 3 likes. College ... Posts about katargamdimond**indestriz**. There are no stories ...

(3 ) رسالة**من المدير**التنفيذي | [ || THKالشرق الأوسط ] ( 3)

*https://www.thk.com/?q=eg/node/9883*

رسالة**من المدير**التنفيذى. الرئيسوالمدير التنفيذى لشركةTHK، Akihiro Teramachi.السعى لزيادة قيمة الشركة .بصفتنا شركة تركز على الإبداع والتطور، فإن شركة...



## اطلاعیهٔ د افغانستان بانک

به تعقیب اطلاعیه قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و فعالیتهای آنها غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت ها عاری از خطر نبوده و زیان های مالی برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید.

# بـــانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال سیزدهم شماره ۱۴۶، اسد ۱۳۹۸



**استفاده از پول افغانی در معاملات و داد و سُتدهای روز مره وظیفه هر شهروند افغانستان است**